هفته نامه

دجهاد هنداره

مـرآة الجـهاد

لومړی کال ۴۳گڼه، چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسرطان ۱۹

PROPERTY OF ACKU

داستاد سیاف دوژلو لپاره د«واد » دسیسه شنډه شوه

پیښور ، دسرطان ۱۵مه :
دپاکستان دسرحدی ایالت پولیسو څلور تنه دخاد جاسوسان هغه وخت ونیول چې غوښتل یې داتحاد اسلامی افغانستان مشراودمجاهدینو دموقت حکومت صدراعظم استاد سیاف اودهغه څو تنه ملگری دیوی "ریموټ کنترول "چاودنی په ذریعه ووژنی .
دغه خبره دصوبه سرحد دپولیسو مشرتیره ورځ دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی وکړه اوزیاته یی کړه:
په ۸ مخ کې

درهرات نبرد شدید بین مجاهدین وقواي رژیم مزدور ادامه دارد

درصفحه ۷

میرغوث الدین آغا

دمولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو دروغتیایي چارو له امرسره دجهاد هنداري دخبریال مرکه :

دنارینه واو میرمنو په روغتونونو کې بې‌له دې چې تنظیمي اړیکې په نظرکې ونیول شي ،ناروغان بستراوتداوي کیږي

په(۳) مخ

درحدود ۱۰۰ نفر افراد رژیم درمیدان شهربه هلاکت رسیدند

میدان شهر
دفتر سیاسی شورای قوماندانان به نقل ازگزارش مخابروی ازولایت وردگ ومیدان اطلاع میدهد که مجاهدین دریك نبرد رویاروی بایك فرقه ازقوای مسلح رژیم کمونست کابل که ازتاریخ ٥ سرطان الی ٨ سرطان درمناطق چهاربند ، پل سرخ ، ده افغانان ، کره چغ ونهر فولاد مربوط ولایت وردگ ومیدان بیش ازیکصد تن ازافراد وصاحب منصبان رژیم راکشته و ٥ تن ازانان راباسلاح های دسته داشته انها اسیر وبیش از ۱٥ عراده تانك محاربوی انانرا یاکاملا ازبین برده ویا ازصف محاربه خارج ساخته اند .
گزارش می افزاید طی این نبرد که چهار روز ادامه یافت پنج نفر ازمجاهدین نیزشهید و ١٤ نفر زخمی گردیده اند .
طبق راپور جنگ بین دوطرف درمناطق مذکور همچنان دوام دارد .

سود جویان،ادویه جعلی رادرکابل عرضه می کنند

اطلاعات رسیده ازکابل به میدیا حاکیست، موسسات دواسازی درهندوستان باسازش باوارد کننده گان ادویه درکابل ، باارسال ادویه جعلی دربدل تداوی مردم ، صحت ضرورتمندان به دوا رابه مخاطره می اندازند .
اطلاع می افزاید بسیاری ازتاجران دوا درکابل باسازشی مبنی برساخت ادویه که دران مواد اصیل کم بکاررفته وارزان تمام شود به کمپنی های دواسازی فرمایش داده انرا به کابل وارد وعرضه مینمایند که درعوض موثریت به مریض حیات ویرابه مخاطره می اندازد .
اطلاع مشعراست عدهٔ ازسود جویان درکابل غلاف خالی انواع کپسول رازخارج وارد وباپودر نخود وارد جواری پرگرده وبعدا به ضرورتمندان عرضه میدارند که گفته شده مبالغ هنگفتی ازین طریق بجیب سود جویان ریخته شده است .
شهریان کابل ازعدم توجه مقامات مسوول رزیم کمونست درزمینه شکایت داشته مسوولین رادرین سو استفاده شریك میدانند .
همچنان وزارت صحت عامه رزیم که مسوولیت درجه یك درمورد رادارد ، درخواب غفلت فرورفته مقامات مربوط ان مصروف جمع اوری وبرپای محافل عیش ونوش هستند .

دخان اباد ولسوالی دنیولو لپاره درژیم حمله شنډه اوُاته ټانکونه یی وسوځول شول

کندز، میډیا
دکندز له ولایت ځخه دیورسیدلی رپوټ له مخی مجاهدینو په کړه دسرطان په ۸ مه نیټه دکابل دملحد رژیم هغه قوه چی غوښتل یی دخان اباد په ولسوالی کی دمجاهدینو پر مرکزونو یوځل بیا برید وکړی له ماتی سره مخامخ کړی اودروندتاوان یی وراړولی دی .
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جگړه کی درژیم له قواو نه پنځه عرادی زغروال ټانکونه سوزولی یوشمیر عسکر اوملیشه یی مړه او۱۲ تنه وسله وال ملیشه یی ژوندی نیولی دی .
درپوټ له مخی مجاهدینو پدی عملیاتو کی درژیم له عسکرونه یومیل هاوان ، یوزیکویو یو راکټ ۱٥ میله کلشنکوفونه دیوی اندازی مهماتو سره ولجه کړیدی .
دیوه بل خبرله مخی مجاهدینو دسرطان په ۹مه نیټه دکندز ولایت دمرکز په امنیتی پوستو باندی تعرضی عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کی یی درژیم دوه عرادی ټانکونه سوزولی اواته تنه ملیشه اوصاحب منصبان یی مړه اوڅلور تنه نوریی د شپږ میله کلشنکونو یومیل هاوان یومیل وسط راکټ اویوی اندازی مهماتو سره ژوندی نیولی .

په چین کی وحشت ناکه سیلابونه

پیکنگ :
دهغه شدیداووحشت ناکه سیلابونو له امله چی دچین دهیواد په بیلابیلو سیمو کی راغلی دی ، په سل هاوو انسانان مړه ، ټپیان اوبی کوره شوی دی.
دنړیوالو خبری منابعو درپوټ له مخی ویل شوی چی دچین په لویدیځو ایالتونو کی ددی سیلابونو له امله تراوسه ۱۲۱ کسان مړه اوځه‌دپاسه ۳۰۰۰ کسه ټپیان شوی دی دچین یوه دولتی اخبار په ډاگه کړی ده چی دسیلاب څپو دوه سوه زره ټنه غله اوبو ته لاهوکړی اوپه سل هاوو زره هکتاره ځمکه یی تراوبو لاندی کړی دی .

ملگرو ملتو دعراق ۳۹ دمیزائیلو دستگاوی له منځه یوړی

بغداد ، دسرطان ١٦مه :
دعراق ددرندو وسلو دله منځه وړلو لپاره دملگرو ملتو دسازمان هیأت دعراق پوځ دمیزائیلو دتوغولو ۳۹ دستگاوی له منځه وړی دی.
په خبرونو کی ویل شوی چی په هغی کی ۳۰ دالحسین نوموړو میزائیلو دستگاوی او ۹ دالفهد نومی میزائیلو دستگاوی شاملی دی .
همدارنگه دعراق حکومت پدی اعتراف کړی چی هغوی سره ٦۱ دمیزائیلو نوری دستگاوی هم شته چی له هغی ځخه یوه دستگاه دسکډ توغندیوده.ویل شوی چی دغه میزائیلو په دښتوکی له منځه وړل کیږی .

سرمقاله

واحده کړنلاره،دتوطئو دمخنیوی لار

زموږاسلامی انقلاب چی په ډیرو کړاوونو له ستونزورو پراونوراتیرشو، دلوی خدای (ج) په نصرت اودالحاد ، فساد په وړاندی زموږ دمومنو وگړو بی ساری مقاومت ، بیدریغه مالي اوځانی قربانیو په برکت دبشپړبری پولی ته نژدی اوبالاخره دتریوه اوږده انتظار وروسته زموږ دمجاهد ملت دسرنوشت ټاکنی حساسی شیبی په رارسیدوشوی ،اسلامی انقلاب سرمنزل ته دزسیدو اوپردښمن باندی دوروستی اوحتمی بری هیلو اوامیدونو زموږ دهیوادهر مومن وگړی په زړه اوذهن کی غزونی کړی دی .
زموږله هیواد نه چی پرغلگرروسی قواوی په تیښته ووتلی ، نو دروسانو دمزدور رژیم دډیر ژر رانسکوریدو اوپرځای یی دمجاهدینو په لاس دیو اسلامی حکومت دجوړیدو لاری چاری هواری شوی ، خوداچی په افغانستان کی

اتم مخ

کویتي ته یو لنډ سفر

دمحترم مولوي محمد یونس « خالص » لیکنه

دوهم مخ

کشمیری مجاهدینو ۱۰ هندی پوځیان ووژل

سرینگر ، دسرطان ١٦مه :
دنیول شوی کشمیرڅخه په رارسیدلوراپوټونه ویل شوی چی ازادی غوښتونکو مجاهدینو دهندی یرغلگرو پوځونو په مختلفو مرکزونو باندی دبریدونو په ترڅ کی ١٥ کسه هندی پوځیان وژلی دی.
هندی پوځونو هم په سرینگرکی اوو کورونو ته اور اچولی اویو شمیر کلی وال کسان یی وژلی دی.

دعراق پارلمان دنویوسیاسی ډلودجوړولواجازه ورکړه

بغداد ، دسرطان ١٤ مه:
دعراق پارلمان ددی هیواد دنظام دډیموکراتیك کولو په خاطر دنویو سیاسی ډلو دجوړولواجازه ورکړی ده .
ددی هیواد پارلمان دفیصلی مطابق کوم سیاسی فورمونه چی نوی جوړیږی هغه به د۱۹٦۸ کال دهغه انقلاب وفادار پاتی کیږی دکوم په نتیجه کی چی بعث گوند پدی هیواد کی اقتدار ته رسیدلی وُ ، ددی سره سره به دغه نوی گوندونه هیڅ ډول مذهبی اړخ نلری ، اوپه پوځی سرگرمیو کی به برخه نه اخلی .

په پغمان کي درژیم درې پوستې ویجاړې شوې

کابل ، میډیا :
دکابل ولایت دپغمان له ولسوالی نه په یوه راډیویی پیغام کی میډیا ته رپوټ ورکړشوی چی مجاهدینو دسرطان په ۱۱ نیټه پدی ولسوالی کی دقول چنار دسیمی پرپوستو برید وکړچی په نتیجه کی دملحد رژیم دری پوستی ویجاړی،پنځه تنه ملیشه مړه اویو شمیر نور یی ټپیان شوی دی .
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جگړه کی درژیم له عسکرونه یو میل راکټ،یوه پیکا، څلور میله کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات ولجه کړی اودښمن ته یی درانده مالی تاوانونه رسولی دی.
دخبرځای درپوټ مطابق په باغ داود اوقلعه حیدرخان باندی دمجاهدینو لخوا ددرندو وسلو ډزی دوام لری .

کله چي صدام حسین پرکویټ باندي دتیري له امله ظالم اوجابر بلل کیږي ، نونجیب هم باید همدارنگه مجازات شي ، دجنگي مجرم په حیث دي وپیژندل شي اوپه همدي نامه دي محاکمه شي . «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دامت تقاضا – دوخت اهم ضرورت

سیدشهریار

که په غور سره دخپلی څوارلس کلنی جهادی مبارزی په اوږده موده نظر واچوو نوجوته به شی چی دسوبو ، فتحو ، کامیابو اوکامرانیو سره سره دملامتیا اوتیروتنی ناوړه ګوته هم همداموږته نیول کیږی ځکه موږ ولیدل چی اسلام دښمنه طاغوتی عناصر تل دمسلمانانو دتباهی اوبربادی لپاره په یوه مورچه کی دریدلی دی ، دوی تل دمسلمانانو دځپلو اوتکولو لپاره سره یو لاس اویو موټی شویدی نه یی په منځ کی دسرمایه داری اوکمونیزم خبره مطرح ده اونه دشرق اوغرب:

خوپه ګډه سره خپل هغه ناولی اوشوم اهداف ترلاسه کول غواړی کوم چی دټولو بی دینو یواځینی تقاضا اوغوښتنه ده .

موږ ولیدل ترکومه وخته پوری چی سور ښامار زموږ په لرغونی اسلامی هیواد افغانستان کی عملاًموجود ؤ نو امریکا او انډیوالانو یی له موږ سره له هیڅ قسم مرستی اوملګرتیا نه سرغړونه نه کوله ترڅو په موږ باندی ددغه سور ښامار مخه ونیسی اوخپلی مادی ګټی خوندی وساتی طاغوتیانو پدی باور درلود چی پرته له افغانانو بل څوك ددغه سره سیلاب مخه نشی نیولای ، خوله کومی ورځی چی روس دافغانستان ځخه پښی سپکی کړی اوپه ماتو ګوډو پښو داموله دریاب ځخه واوښت له همغی ورځی راپه دیخوا دغربیانو په دریځ کی دځمکی اواسمان فرق راغی نه یواځی داچی پخپلو مرستو یی بندیز ونه‌ولګول بلکی زموږپه تکولو او ربړولو یی هم پیل وکړ ځکه چی اوس امریکا اوروس پخپل منځ کی سره یوه ځانګړی توافق ته رسیدلی اوروس خپله دخیرات کچکول دامریکا مخی ته کیښود نو ټول اسلام دښمنه عناصر پدی هڅه کی شول چی باید په افغانستان کی داسلامی دولت پرځای‌دنجیب دګوډاګی رژیم په څیر یو بل لاسپوڅی رژیم منځ ته راشی ځکه داسلامی حکومت په منځ ته راتګ سره ددوی مادی اومعنوی ګټی په خطر کی لویږی .

نودهمدی هیلی دپوره کولو لپاره په تیره اونۍ کی دملګرو ملتودسرمنشی خاص استازی بینند سیوان کابل اواسلام اباد ته سفرونه وکړل نوموړی خوپه ځینو بیانیو کی له ډیری تیری ژبی ځخه هم کار اخیستی دی ده ویلی دی دملګرو ملتو دسرمنشی پریزدیکویار دپنځومادو دطرحی دعملی کولو په لاره کی هیڅوك هم دځنډ او خنډ ځخه کارنشی اخیستی اونه چاته ددی خبری اجازه ورکول کیږی چی زموږ دلاری خنډ وګرځی داخبره دی یاده وی چی دسویس دبهرنیو چارو وزیر هم دده په څنګ کی په نااشنا اوتوبو تو لاس پوری کړیدی .

دتعجب خبره خودادی چی ځنو اسلامی هیوادونو هم دملګرو ملتودسرمنشی دطرحی سره یووالی اورضایت ښودلی تردی پوری چی دپاکستان جمهور رئیس غلام اسحق خان هم ویلی دی چی باید مجاهدین اومهاجرین دسرمنشی دطرحی سره خپل رضایت اوخوښی څرګنده کړی .

شایدداهغه خبری وی چی په تیرو څوارلسو کلونو کی موږنه وی اوریدلی خو ددغو ټولو اوتوبوتو زمینه دچادلاسه برابره شوه جواب به یی حتما همداوی چی دخپله لاسه ، ځکه په دومره اوږده موده کی موږیو ځانګړی توافق ته سره ونه رسیدو . روس – امریکا توافق ته رسیدی شی ، خو موږ نه. شاید چی زموږ اختلافات به ددوی په پرتله ډیر زیات وی

په اووم مخ کي

کویتي ته یو لنډ سفر

دمحترم مولوي محمد يونس خالص ليکنه

دوشنبی په ورځ دجون په لسمه نیټه داسلام اباد په هوایی اډه کی طیاری ته دځپلوملګرو سره ور وختم ،لیدل می چی په پوره بی نظمی سپرلیو سره ټیل ماټیل جوړکړی ؤښځی او نران په لاره کی سم نشوای تیریدلای (زه دخپلو ملګرو سره لږشانی په څنګ ودریدم خولاره لیا پوره خلاصه نه وه چی زموږ په ګوته شوی چوکی نورو ونیولی اودطیاری کارکوونکو وغوښتل چی موږ نور هم وځغلوی خو موږ مقاومت وکړ ترڅو موخپلی چوکی ترلاسه کړی) متأسفانه هوا هومره توده وه چی دقیقه په دقیقه دماشومانو دضعف په انتظار وو خدمتګاران ښکته پورته کیدل خو ترڅو چی طیاره پورته ته شوه یو ماشوم ته یی یو ګوټ اوبه هم نه ورکولی په هر صورت بالاخره طیاره کویتی ته ورسیده اوپه خیر موداورځ تیره شوه .

په کویتی کی موځینی جهادی قوماندانان ولیدل اودځینو خبیرو خلکو سره مو ملاقات وشو خو دموجوده سیاسی هلو ځلو له کبله ګردسره په پوره تشویش کی ډوب وو، په ویښه لاڅه چی خوب کی یی هم ارام نشو کولای اودافکر کیدو چی شرق اوغرب سره لاسو نه یو کړی اوغواړی دافغانستان مظلوم ملت داستعمار منګلو ته وسپاری ځکه یوی خواته دظاهرشاه ډول غریډو اوله بلی خوا موجوده ملحدرژیم خپلی پیسی دکردوړو په شانی شیندلی اوداامیدورته پیداکیده چی دبین الملل موجوده طرحه به عملی شی اودنجیب دملحد رژیم اودده ځخه دده دنورو ملحدانو مزدورحکومتونه به په افغانستان کی دملت له خوا یو رسمی حکومت وپیژندل شی اوله دی لاری به ددوی ټول قراردادونه چی افغانستان دروسانو په لمن کی اچوی اوټول قرضونه چی ددی ملت دوژلو لپاره یی کړیدی رسمی بڼه واخلی اودافغانستان آینده حکومت به په خپله دروسانو غلام وګرځوی اوله بلی خوابه دیو نیم ملیون ځخه دزیاتو شهیدانو مسئولیت ددی مجاهد ملت په غاړه ولویږی .

هغه خلك ډیر مشوش وواوداځکه چی نه خودهغو پخوانیو واکدارانو ځخه «کومو چی داملت په خپلو شخصی اغراضو ولوباوه نه یی ورته معنوی وده ورکړه اونه مادی ، وږی تږی اودسیاست اومعنوی پرمختیا ځخه محروم یی وساتل صرف هغه چاته یی روزنه ورکړه چی نن هم دشرق یاغرب استعمار لپاره کارکوی » مطمین کیدلای شول اوپدی یی باور درلودچی هغوی که قدرت ترلاسه کړی نونه یواځی ددی ملت حیااوشرف به دپخواپه څیرولوټی بلکه دی سره سره به دالحاد لپاره نهایی کوښښ وکړی ترڅو داینده لپاره دجهادنوم ختم کړی اونه خو دموجوده شرمښانو ځخه مطمین کیدلای شول چی افغانستان یی دخاورو سره خاوری کړ اونه دموجوده جهادی رهبرانو ځخه ډاډه وو کومو چی خپل حکومت یی اعلان کړخوله یوی خوایی دپخوانی ظاهرشاهی حکومت ځخه څه تفاوت نه درلود،بلکه همغه شانی یی ډیر بی کفایته اواسلام دښمنه په چوکیوکښینول اوپیاوړی مجاهدین یی دنظره وغورځول ،دجهادی سنګرونو دپرمختګ لپاره یی کوم قدم اوچت نه کړ ، بلکه لاتاند یی وواهه چی داملت دوسیع القاعده حکومت په نوم تجزیه کړی اوداهل تشیع په نوم خاصو خلکو ته ځانله برخی وټاکی اوله بلی خوا پخپله دهمدی حکومت غړو ددی حکومت پرضد دتشکیل داولی ورځی ځخه لاس اوپښی وهل پیل کړل اونړیوالو ته یی وښودله چی داخلك یو اسلامی حکومت لاڅه چی صرف یوه حکومتی اداره هم نشی چلولای او نشی کولای چی دافغانستان دقوتونو دتوحید لپاره دخپلو تنظیمونو ځخه تیرشی ، سرا سیمه ګی حکفرماوه اودشرقی اوغربی استعمارونو مزدورانو شپه ورځ هلی ځلی کولی چی داتشویش نور هم وزیات کړی اودمجاهدینو عزائم ړنګ کړی اودجهاد نتیجه داستعمار چیانو لاس ته وسپاری همدغه وو چی دچهارشنبی په ورځ مو د«صدای امریکا » ځخه دمجاهدینو دلومړی ورځی دښمن دداوُد ددربار خاص نوکر عزیز الله واصفی مرکه واوریده چی په ډیر جوش یی دبین المللی اداری دمنشی طرحه استقبال کړه ، هودی کښی شك نشته دافغانستان دغه شان عناصر که څه هم نن سبادکومی منظمی مشرتیا هم ترلاسه کړی د:

شمشیر نیك زاهن بدچون کند کسی

ناکس به تربیت نشود ای حکیم

په حکم خپله شیطانی لاره تعقیبوی کله به دلرو اوبرو استعمار چیانو جغ په څټ اخلی اوکله به ورسره داسلام اوجهاد پرضد ارتباطات نیسی اوکله به لادهغوی دمعندانه پالیسی سره سرښوروی،بین المللی اداری دافغانانو ددوکی لپاره داستقلال ، تمامیت ارضی ، بی طرفی سیاست دحفظ اوداسی نوری خبری مطرح کړی دی اومعنی داورکوی چی استقلال هم لرو ، ارضی تمامیت موپه لاس کی دی اوبی طرفه سیاست موهم نیولی خواوس یی حفاظت ته ضرورت لرو چی بین المللی اداره باید راسره مرسته وکړی ،حال داچی استقلال موروسانو لوټلی دټانګو په سرییی خپل نوکر دحاکم په حیث کښینولای ارضی تمامیت یی مختل کړی یه واخان او پامیرکی اوس هم روسان ناست دی بی طرفه سیاست خوځکه نشته چی دروسانو حکومت دی .

دغه شانی طرحی ته صرف هغه څوك لبیك ویلی شی چی هغه فکر کوی دلته که اسلام او اسلامی حکومت رامنځته شی بیابه شپه پکښی نشی تیرولای ځکه نو دخپل شخصی غرض لپاره افغانستان اودافغانستان مجاهد ملت باید محوه کړی اوهغه بین المللی اداره چی ددی مزدور حکومت نماینده یی بی دکوم بین المللی اصولو دتوافق ځخه صرف دروسانو په زور منلی دی هومره محترمه وبولی چی هری طرحی ته یی لبیك ووایی

دغه حالت خورا زړه دردونکی وواوبی رحمه انسانانو له دی ځخه داسی استفاده کوله لکه شرمښان یی چی دژوندی میږی دداړنو ځخه کوی. دلته مختلفو معندوعناصرو مختلف تحریکونه چلول څوك به دظاهر شاه ډول ته نڅیدل اوچابه دملحد رژ یم سورنی واهه خوکه حقیقت ته وګورو دغه شانی خلکو چیغی ډیری وهلی خو دګوتو په شمار خلك وو. مجاهدین په زړو کښی پاخه وو خوپه تیاره کښی ولاړ وو اوصرف داخبره یی په خوله وه چی دا اوه واړه مشران ولی سره نه متحد کیږی ؟

دی نه نه وه خبرچی دااووه واړه مشران هم سره بیلی بیلی لاری لری ،دوی خوپه اوله کښی لکه تخمونه چی تازه راوتوکیږی پاسته ماسته وی اوچی وده وکړی بیا اغزی اغزی شی اوګلان ګلان شی دوی په اوله دکاغذ پرمخ داسلام غړونه وکړل او خلك هم پری راغونډ شول خواوس ځینی ګورو چی خلقی یی هم وروړ دی اوپرچمی یی هم ،وینو یی

> دموقت حکومت غړو دهمدي حکومت پرضد دتشکيل داولي ورځي ځخه لاس اوپښي وهل پيل کړل اونړيوالو ته يي وښودله چي داخلك يو اسلامي حکومت لاڅه چي صرف يوه حکومتي اداره هم نشي چلولاي اونشي کولاي دافغانستان دقوتونو دتوحيد لپاره دخپلو تنظيمونو ځخه تيرشي

په اووم مخ کي

مرکه کوونکی : محمد یعقوب

دنارینه و او میرمنو په روغتونونو کی بې له دې چې تنظیمي اړیکې په نظرکې ونیول شي ، ناروغان بستراوتداوي کیږي

دجهاد هنداري خبریال ډیره موده مخکې په میرانشاه کې دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو دروغتیایي چارو له امرمحترم میرغوث الدین سره مرکه کړې وه چې دنورو مهمو مرکو له امله تراوسه پورې دچاپ څخه پاتې وه دادې اوس یې په دې گڼه کې درنو لوستونکو ته خپروو

پوښتنه : دلته په میرانشاه کی دصحی مرکز دجوړیدو هدف څه دی ؟

ځواب : دلته په میرانشاه کی دصحی مرکز دجوړیدو اساسی هدف دمجاهدینو او مهاجرینو خدمت دی اوهمدارنگه دافغانستان په داخل کی دهغو افغانانو سره طبی مرستی کول دی ، چی په ازادو شووسیمو کی اوسیږی بل داچی دافغانستان دجنوبی جبهاتو څخه چی کوم ټپیان میرانشاه ته راوړل کیږی دلته یې موږ دتداوی لاندې نیسو ځکه داځای نسبت نورو روغتونونو ته نږدې دی

پوښتنه : تاسو دمجاهدینو له جبهاتو او مرکزونو سره څه ډول همکاری او کومکونه کوی ؟

ځواب : مخکی مجاهدینو ډیر مشکلات درلودل ، ځکه موږ به دروغتون څخه په نوبت سره یو یو ډاکټر جبهاتو ته لیږلو ، څود مجاهدینو تداوی وکړی خو یوه ډاکټربه دټولو جبهاتو دمریضانو تداوی نه شوه کولی له همدی کبله په دی برخه کی یو څه اسانتیاوی رامنځ ته شوی اوهغه داچی موږ دM.S.H موسسی په مرسته یوکورس جوړکړی چی په دغه کورس کی دهری جبهی قوماندان په معرفی کولو یو تن مجاهد هغوی ته دصحی کارکن په توگه تربیه کوو ، تراوسه پوری موږ (۸۰) تنه صحی کارکنان په ٥ دورو کی تربیه کړی او جبهاتو ته مو لیږلی دی ، چی دغو صحی کارکنانو ته درمل او معاش دهمدغی موسسی له خوا ورکول کیږی

پوښتنه : ستاسی په صحی مرکز کی دمریضانو دپاره څه ډول اسانتیاوی شته ؟

ځواب : موږدلته دشهید مولوی فتح الله حقانی په نوم یو روغتون لرو چی ٤۰ بستره لری ، په دی کی هغه مجاهدینو او ولسی خلك چی ټپیان شوی وی ، بسترکوو او دنورو مریضانو معاینات هم دغلته کیږی اولازمه دوا ورکول کیږی ، دمیرمنو دپاره هم یو ۲۰ بستریز روغتون لرو چی په دی دواړو روغتونونو کی بی له دی چی تنظیمی اړیکی په نظرکی ونیول شی ، مریضان بستر او تداوی کوو او هغه مریضان چی دلته یی تداوی امکان نه لری هغه دپیښور روغتونونو ته لیږو.

پوښتنه : ستاسو صحی مرکز کومی ستونزی اومشکلات لری اودهغی درفع کولو دپاره څه تجویز او پیشنهادونه لری ؟

ځواب : زموږ دصحی مرکز اوپه خاص ډول دروغتونونو مشکلات یوه اندازه زیات دی ، ځکه چی یو خوپه دغو روغتونونو کی دمتخصصینو ډاکټرانو کمبود دی اوداسی ډاکټرانو په پیداکولو موږ تراوسه بریالی شوی نه یو ، څرنگه چی داځای دافغانستان پولو ته نژدی دی نو زموږ ارزو داده چی په دی روغتونونو کی ښه لایق ډاکټران وی ، ترڅو دهغوی ټپیانو چی دجبهاتو څخه راوړل کیږی اوهم دهغومهاجرو مریضانو چی دلته میشته دی په ښه ډول تداوی وشی .

پوښتنه : په راتلونکی کی ددغه صحی مرکز دعصری کیدو اوپراخیدو په باب څه پلانونه شته اوکه نه ؟

ځواب : موږددغه طبی مرکز دپراخیدو لپاره ځانگړی پروگرام لرو ، حقانی صاحب موږته هدایت کړیدی ، چی دلته باید یو لوی روغتون جوړشی ، ترڅو زیات مریضان دلته بستر او تداوی شی که څه هم موږ په دی برخه کی ډیرمشکلات لرو ځکه موږ ډیره دوا دبازار څخه دپیسوپه بدل کی رانیسواویوه کمه اندازه یی دخیریه ټولنو له خوا راکول کیږی .

پوښتنه : تاسو ددغه طبی مرکز لپاره دکوم ځایه خپلی مرستی لاسته راوړی ؟

ځواب : زموږ دطبی کورس دپرسونل اوهغه صحی کارکوونکی چی موږدلته تربیه کړی اوجبهاتو ته مو لیږلی دی دهغوی معاشات اودجبهاتو دپاره او دM.S.H موسسی له خوا راکول کیږی دنارینه وو دروغتون لپاره هلال احمرالسعودی اودمیرمنو روغتون دپاره هیئت الاغاثه مرسته کوی .

الجزایر دبحران په لور

عوض الدین «صدیقي»

الجزائر ترهغه وروسته چی «جبهه نجات اسلامی» مشر عباس مدنی اودهغه مرستیال ونیول شو دکړکیچونو سره مخامخ شو ، ټانکونه سرکونو ته راوتی اوپر گرځیدو راگرځیدو بندیز لگول شوی خوددی ټولو سره سره دخلکو مظاهری شدت مومی .

الجزائر په شمالی افریقا کی موقعیت لری اودتونس ، لیبیا ، مراکش اوموریتانیا له جمهوریت سره په یوه پوله کی پروت دی ، ددوهم نړیوال جنگ په دوران کی الجزائردفرانسی مستعمره وه خو وروسته ورو ، ورو دخلکو په منځ کی دازادی غورځنگ ریښی وځغلولی دفرانسویانو پرضد جهاد پیل شو او بالاخره دفرانسی دهغه وخت جمهور رئیس دوکل په ۱۹۶۲کال کی دالجزایر استقلال په رسمیت وپیژند .احمد بن بلا دازادی دترلاسه ته راوړلو وروسته ددی هیواد لومړی جمهور رئیس ؤ خوپه ۱۹٦٥ کال کی دهغه وخت ددفاع وزیر هواری بومیدین کودتا وکړه اودبن بلا حکومت یی له منځه یووړ ، په ۱۹۷۸ کال کی بومدین وفات شو اوترهغی وروسته شاذلی بن جدید دقدرت واگی په لاس کی واخیستی ، دشاذلی حکومت په سرکی نسبتاً بریالی پرمخ لاړ ، خو ورو ورو نورو گوندونو سراپورته کړ اوپرده ه یی فضا تنگه کړه بالاخره دی یی دی ته اړ کړچی نورو گوندونو ته هم دفعالیت اجازه ورکړی ترڅو وروسته ټولو گوندونو خپلو فعالیتونو ته شدت ورکړ ، خوداسلامی جبهی گوند فعالیتونه ترټولو اغیزمن ثابت شول .

د۱۹۹۰ کال دجون دمیاشتی په انتخاباتو کی چی ښاروالی لپاره سرته ورسیدل جبهه نجات اسلامی د(٥٥) فیصده رایو په لاس ته راوړلو سره ښه بریالیتوب لاس ته راوړ دالجزایر ، حاکم گوند فکرکاوه چی جبهه نجات اسلامی به ددریو فیصدو څخه زیاتی رایی لاس ته رانه وړی خودانتخاباتونتایجو نه یواځی داچی الجزایر اوافریقا حیرانه کړه بلکی په ټولی نړی کی ورته خلك گوته په غاښ شول .

دجبهه نجات اسلامی دی بریالیتوب غرب اودشاذلی بن جدید حکومت دسختی ویری سره مخامخ کړ ، شاذلی دغرب خصوصاً دفرانسی په مرسته دجبهه نجات اسلامی دځپلو هلی ځلی پیل کړی اوداسی تبلیغات یی پیل کړل چی گواکی دجبهه نجات اسلامی غړی نشی کولی له خپلو مسوولیتونو بریالی راووځی ، خو نور دوی تبلیغاتو چندان ځای ونه نیوه اوپه خلکو کی دفرانسویانو سره دجهاد په شان جذبی بیاراژوندی شوی ، چی ورو ، ورو یی پرحکومت فشار واچاوه ترڅو پارلمان ړنگ او دسره انتخابات شروع شی غرب له دی حالاتو څخه په ویره کی شو دیوی خوادشاذلی بن جدید دناکام حکومت له وجی دخلویښت لکو په شاوخوا کی خلکو فرانسی ته هجرت وکړاودبلی خوا جبهه نجات اسلامی ورځ په ورځ دقوت په حال کی وه .دشاذلی حکومت ونه توانید چی دخلکو په خولو کی دانتخاباتو کلمه ورکه کړی اوبالاخره مجبورشو دجون دمیاشتی په ۱٥ یی

> **دشاذلي حکومت ونه توانید چي دخلکو په خولوکي دانتخاباتو کلمه ورکه کړي اوبالاخره مجبورشو دجون دمیاشتي په ۱٥ یي حکومت منحل کړ،په هیواد کي یي اضطراري حالات اعلان کړل**

حکومت منحل کړ ، په هیواد کی یی اضطراری حالات اعلان کړل اودخلکوسره یی وعده وکړه چی په همدی میاشت کی به انتخابات سرته ورسیږی خودحکومت تررنگولو وروسته شاذلی دسختو حالاتو سره مخامخ شوی دیوی خوا دخلکو مظاهری روانی دی چی باید زر تر زره اضطراری حالت ختم شی، انتخابات دایر شی دبلی خوا په ویره کی دی چی ښایی په انتخاباتو کی ماته وخوری ، ځکه چی دپروسږکال په پرتله سږکال دخلکو په منځ کی دجبهه نجات اسلامی فعالیتونو لاغزونی کړی اودخلیج جگړی دمسلمانانو داسی احساسات راپارولی چی نورنه غواړی دامریکا پلوی حکومت پری حکومت وکړی جبهه نجات اسلامی دحالاتو ترخیړنی وروسته ښه معقوله فیصله وکړه ، دمظاهرو دلړی بندولو امریی وکړ ، ترڅو حکومت پوځیان اوټانکونه سرکونو ته راونه باسی ، دوی تر ۱۱ ورځو پوری دمظاهرو اواعتصابونو څخه لاس واخیست اوچی کله انتخابات وځنډول شول پرغونډو مظاهرو اودشپی پر گرځیدو بندیز ولگید ، ټانکونه سرکونو ته راووتل دوی بیرته خپلو افرادو ته امروکړ چی پرسوله ایزو مظاهرو لاس پوری کړی اودجبهه نجات اسلامی مشر عباس مدنی حکومت ته خبرداری ورکړ که اضطراری حالت ختم نکړی دوی به دحکومت پرضد جهاد اعلان کړی .

حکومت تردی اعلان وروسته عباس مدنی اودهغه مرستیال ونیوه خو دمظاهرو مخه یی ونشوه نیولی ، ځای پرځای مظاهرو شدت وموند اودحالاتو دخرابیدو سره سم ددی نښی نښانی لیدل کیږی چی دحکومت اضطراری حالت به دڅلورمیاشتو څخه نور هم اوږدیږی.

په هرصورت دانتخاباتو ځنډول ، داضطراری حالاتو اعلان اودعباس مدنی نیونی ددی پرځای چی ناارامی یی کراری کړی وی دهغوی کړکیچن کولو ته یی لمن ووهله اودشاذلی حکومت یی دسخت بحران سره مخامخ کړ ویه لیدل شی چی دشاذلی حکومت له دی حالاتو نه څنگه راوځی ؟ ایا دانتخاباتو کولو ته مجبوریږی اوکه داضطراری حالاتو په اوږدولو سره جبهه نجات اسلامی ځپی ؟

جهادي ادب

ډيرکسان دي تللي ، پسي تللي
پاتي شوي يي نه نخښي دي نه کلي
خوچي لاردشهادت يي ده نيولي
ابدي يي دي پري ايښي دنورځلي

اورپوری شو

رالیږونکی معیوب وزیر دسترکلی

ګولی وریږي ګران وطن کې پسري لمبې تاویږي
چې دبهار په چمنونو باندې اورپورې شو
نه به په ويښه نه په خوب اونه په مرګ ارام شم
چې مې دميني په ځايونو باندې اورپورې شو
ماوې اشنا کورونه څنګه وو احوال يې راکړه
وې په هغو ټولو کورونو بـانـدې اورپورې شو
ماوې ښايسته جانان مې څه شو څنګه نه يې وينم
ښايسته شهيد شو ښايستونو باندې اورپورې شو
شمعې لوګی شوې پتنګان چې په هغو کې وسول
ظلم ته ګوری په ظلمـو بـانـدې اورپورې شو
پسرلی راغلو بـلبـلان پـاس په هـواکې ژاړي
ددوی دګلو په باغونو باندې اورپـورې شـو
چې به ميلې وې سات تيری اوښه سيلونه به وو
په اخترونو په سيلونو بـانـدې اورپـورې شو
دمندايز دآسمان څوکو په ډګرمې ديدنونه کيدل
په هغو غرونو ځنګلونو باندې اورپـورې شـو
چې هرسهار به يې ټومبل دپسـرلي ګـلونه
په هغو ځنواوربلونو بـانـدې اورپـورې شـو

لنډه کيسه

تاوده بادونه

سیدشهریار

ده راته کیسه کوله :
په هغه بیچاره باندی خوډیری تودی سړی تیری شوی اوډیر ترخه اوتاوده بادونه پری ولګیدل لومړی خومی نه پیژانده خوڅه موده پس می ورسره پیژندګلوی وشوه اوس می هم دهغه وچ کلك بدن سترګو سترګو ته کیږی اوډغی کمزوری حالت کی هم دکابل دښار یخی یخنی اوډیری او وحشت څخه ډکی فضا پده باندی کوم بد تاثیر نه کاوه دهیڅ شی غم یی نه خوړ بی له همدغه یوه غم نه ! دی به چی کری ورځ دجګړن رفیق دکور په کارونو کی لالهانده وګرځید نوشپه خوبه یی خامخادخپل کمکی زوی په غمونو او دردونوکی ناکراره تیریده ده خوښی او خوشحالی په دوربین کی هم نه لیده تل به یی زوبنی غبرګی سترګی په اوښکو سری او لمدی وی په سپینه ږیره به یی دجګړن ماشومان په شااواوږو رااړولی ؤ یوه خوا اوبله خوا به یی ګرځول خوبیا هم دجګړن کورنی له ده څخه سرټکاوه ځکه دانقلابیانو په کور کی دده سادګی اودینداری دهغوی په مترقی ژوندیو تور داغ ؤ !!! ده دری کاله دیوه کوچنی ورك زوی لپاره دجګړن دکور ټول کارونه په کمزوری بدن په سراخیستی و ده ته پخپل کلی کی چاپه جګړن باندی خط ورکړی ؤ چی شاید دده په مرسته ستازوی راپیداشی خودی لدی نه نه ؤ خبر چی اختیارات لدوی سره نه بلکه له روسانو سره دی تاته خوبه پته وه کنه چی ګل دین کاکا ته خدای پاك داوو لونو لپاسه ایکی یو زوی ورکړی ؤ هغه به نو څومره نازولی ؤ ، ده به ویل له کومی ورځی نه چی یی موریه په حق رسیدلی وه بیا یی زه یواځی پلار نه بلکه مورهم وم !

ربښتیا یی ولی دی همداسی وه ټول کلی ته پته وه چی هغه به دمور مینه هم دپلار څخه پوره کوله ښه ته خپله کیسه کوه !

هوویل یی چی په ۱۳٦۲ کال کی روسی قواوی پورته راوختلی نوډیر کمکی کمکی کوچنیان یی دعسکری لپاره ونیول ځنی خوږکی داسی هم و چی دچاخبره له خولو څخه یی دشیدو بویونه تلل : پدغو نیول شویو کوچنیو کی یوهم دګل دین کاکا ١٤ کلن بی موره بچی ؤ ، دده نیونی کاکا بیچاره ډیر وارخطا کړی و: هغه دچاخبره دده دلاس امساوه کله له ده څخه یواځی ګرځیدای اوکیناستی شو یو پلو بل پلو خوږی ډیری منډی وهلی وی خو دزوی هیڅ درك خرك یی نه ؤ معلوم کړی اخر دخط سره یوځای دجګړن رفیق په حضور کی ودریدجګړن چی دمیو دپیالو په څیر غبرګی سری سترګی دخط دلوستلو څخه راپورته کړی نو دغروره په ډکه لهجه یی ورته وویل : کاکا کار خود وطن دساتنی حفاظت اوخدمت دی موږ هریو باید دوطن داستقلال لپاره ځان قربان کړو او تر اخری سلګیو پوری باید دوطن او دکارګری سور انقلاب له دښمنانانو سره وجنګیږو ترڅو دتوری ارتجاع نوغی وباسو او ... نوهله به بیا موږ دترقی اوکامیابی په لار قدم ږدو !!

خوچونکه دخط لیکوونکی زما ډیر صمیمی ملګری دی دده خبره نشم غورزولی ته به همدلته اوسی کیدای شی ستازوی پیداشی هیڅ وارمه خطاکوه :

همغسی وشوه دګل دین کاکا دجګړن رفیق سره کورشو په نن سبا کی پری دری ، دری نیم کاله تیرشول خودزوی هیڅ پته یی ونه لګیده .

لدی پیښی نه ما لږی ورځی مخکی ورته وویل : ګوره کاکا ستاسی په سیمه کی زه فلانی او فلانی پیژنم کوم چی اوس په پاکستان کی دمهاجرت شپی سبا کوی

په پنځم مخ کې

نه لیکم

ملااسد الله حنیفي

خلکه ! شاعریم خوشعرونه په رخسار نه لیکم
لیکل کوم خوسره ګلونه دګلزار نه لیکم
زه صفتونه دسنګراودغازیانو کوم
دګلرخانو حال اوخط باندې اشعارنه لیکم
زه دکمون سیلیو مړاوی کړم په ځوانه ځوانی
ځکه غزلې دسپرلي اودبهارنه لیکم
زما دهیلو ډیوې مړې کړې دوحشت بربوکو
په تورو شپو کې به شعرونه دسهار نه لیکم
زه دیتیم په حال ژړیږمه په کړیکو کړیکو
عالمه ! واوری نوربیتونه په نګارنه لیکم
زما هوس زما خوښی کمون لوټلی خلکه !
زه (حنیفي) به چوکلی ، ټیك ، چند نارنه لیکم

لنډه کیسه

...خوروسان يې مات کړل

محمد هاشم « رحيمي »

په ليدو يې موږ په تعجب کې شوو ټوکر ، ټوکر بدن يې زه لاپسې دسوچونو په سمندرکې لاهوکړم دهغه په ښايسته مخ اوپه زرتارينو ويښتوکې وينو ليکې جوړې کړې وې دتن کالي يې په چړو سوري ، سوري شوي وو په بوټانو کې يې دوينو ډنډونه ولاړووپه زيړ زبيښلي مخ يې وچو وينو تور ، تور پترې نيولي‌وو دځان سره وبوګنيده .

نه ... هغه مې دزره هيح ... خدای به همداسې خوښه وه ... زه خوله دوی زيات ټپي نه وم ، نوريې خبره په ستوني کې پاتې شوه دجيب څخه يې دسمال راويست اوسترګو ته يې ونيو موږحيران شووبدن يې دبم چړو خال ، خال سوری کړی ؤ .

خو په همدې حالت کې هم دځان په غم کې نه ؤ او خپلو شهيد شويو ملګرو ته يې اوښکې څڅولې لږبه چې ارام شو بيابه يې يو ټکان وخوړ اودځان سره به وبوګنيد :

... « جان ګل » خوږې تر روغتونه رسولی شو ... ټپونه يې هم کم وو...

پراوښ لږکالي بار وو اوپه توره شپه کې يې دجګو جګو او آسمان څکو غرونو په منځ کې دسفر لارې لنډولې داشپه ترتيرې شپې ډيره سره اوتياره وه په داسې تروږمی کې منزل کول څه اسانه کارنه ؤ دبې رحمه طيارو له لاسه منزل نه کيدو ځای پرځای يې پشنګونه غورځول دتروږمی زره يې په سپينو پړکونو څيرې کاوه .

دشپې له خوا دکشف الوتکې هم په نوبت ګرځيدې اودمجاهدينو په لټه کې وې څومره به چې شپه پخيده هومره به دطيارو اوازونه زياتيدل اوکله کله به جيټ الوتکو هم دتيارې په سکوت ماتولو کې ورسره ملګرې کيدې .دتيرو څوشپو راهيسې دالوتکو بمباری دومره زياته شوې وه چې حد يې نه درلود، کلي ، کورونه ، جوماتونه ، ټول وران شول ، خودبمونو باران تم نشو .

په کلو کی څوك نه و پاتې لوی ، لوی کلي ړنګ اوخالي پراته ووپه کوم کلي کې که يو نيم کورپاتې ؤ هغوی هم دخپل ځان خوندي کولو په غم کې ووانسان څه چې دغرونو له وحشي ځناورو څخه هم دخوندي کيدو لارې ورکې وې .

مجاهدينو په سکندرخيلو کې دمورچو په جوړولو پيل کړی ؤ خپل سنګرونه يې ټينګول اوځانونه يې يوې ستړې قرباني ته چمتوکول .دټولو سترګې سرې اوجذبې يې راپاريدلې وې .

ګونګسې شوې چې دروسانو لوی کتار غواړي دګوي سرحد ته ځان ورسوي په همدې خاطر په ټوله سيمه دبمونو باران اوريده ، طيارې وې ، وينې وې ، داريوب د دنګو دنګو اواسمان څوکو غرونو په سرونو کې روسي ځناور دګن شيپ هليکوپترو په وسيله پلي کيدل اوځانونه به يې خوندي کول فضاټوله لوګي ويرې اوماتم نيولې وه هيڅوك نه پوهيدل چې څه پيښيدونکي دي ټول په ويره کې ووهريو دسوچونو اوانديښنو په سمندر کې ډوب ؤ زما ترځنګ ناست ملګري وويل :

راځه چې لويې لارې ته کښته شو که څوك مووليد چې دبمبارد پوښتنه ترې وکړو دلويې لارې په غاړه ټول دوکانونه بند ووهيڅوك نه ليدل کيدل ، چوپه چوپتيا وه خوداچوپتيابه کله کله دجيټ الوتکو له غرمبهار سره ماته شوه دطيارو دلاسه چالاټين او اور نښوبلولی چې په کوم ځای کې به يې لږ رڼا وليده سمدلاسه به بيابمونه پرې غورځيدلی ووتروږمی لانور هم خپل وزرونه پراخه کړي وو دومره تياره وه چې لاره سمه نه ښکاريده موږدلويې لارې دوکاندار سره دهغه بمبارد په باره‌کې غږيدو کوم چې په دې ورځ اووه ځلې پرکلي شوی ؤ هغه وويل په دې بمباردکې هيچاته هم څه تاوان ندی رسيدلی .

موږپه همدغو خبرو لګياوو چې ګونګسی موټر غوږشو . دګونګسي سره سم‌دوکان دروازه بيرته اودوه تنه راننوتل .مخامخ موسترګې په يوه ځوان ولګيدې کوم چې په وينو ليت پيت ؤ ، په ليدلو يې تعجب کې شوو دلږې دمې وروسته مو ورته وويل ځوانه څنګه يې دا ولې ؟ مسك شو په ډيره نرمه لهجه

په پنځم مخ کې

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعاليتونه

داکسا ، کام ، خاد ، واد - تشکيلات ، فعاليتونه اوجنايات

عبدالوکيل

روسانو په اکسا کې دتوجه وړ نفوذ درلود ځکه چې روسانو داکسا له رئيس اسدالله سروري سره مستقيمې اړيکې درلودې اوهغه يې باوري اجنټ ؤ (دداؤد دپټو پوليسو دستگاه نوم مسئونيت ملي ؤاو د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نيټې کودتا څخه وروسته يې هغه داکسا په نوم ونوماوه اوداکسا دغه رئيس اسدالله سروري دروسانو په واسطه سره پر افغانستان له مستقيم نظامي تيري څخه وروسته دنسبتاً کم وخت لپاره په اصطلاح دانقلابي شورا او صدراعظم دمرستيال په توگه هم مقرر شو) داکسا دغه رئيس په يوه صحنه کې دری روله لوبول په دې معنیٰ چې هغه ظاهراً هم دتره کی امرونو ته غوږنيوه اوهم يې دامين خوکی ، جی ، بی ته ترټولو وفاداراودهغې حقيقي راز دارؤ نوروسانو ددې لارې څخه چې هرڅومره کولای شول هم يې خپل دوستان (پرچميان) له وژلو څخه بچ کول اوهم يې خپل دښمنان (داسلامی تحريك غړی اونور وطن دوستان) په شهادت رسول .

داکسا څخه داسې خونړۍ اووحشي دستگاه جوړه شوه چې دزيات شمير سياسي بنديانو به لادتحقيق مراحل نه وبشپړ شو ي چې قتل اوشهيدان به يې کړل داکارهم تره کی په اکسا کې دخپلو وفادارواشخاصو پواسطه ترسره کاوه اوهم امين همدارنگه کی ،جی ، بی داکسا رئيس او دهغو اجنټانو په واسطه چې دمختلفولارو څخه يې هلته ځای په ځای کړي ووديې شميره مسلمانانو دشهادت سبب شول ځکه خو کله چې روسانو په افغانستان کې مستقيمه نظامي مداخله وکړه اودادستگاه يې په مکمل ډول سره ترخپلې ارادې اوتسلط لاندې راوستله نوبيا يې ديوشمير اعدام شويو اوشهيدانو نومونه اعلان کړل اودهغو ټولو مسئوليت يې چې روسانو اوتره کی وژلي اوشهيدان کړي ووداامين په غاړه وراچاوه په دې وخت کې چاته پوره څرگنده نشوه چې ددې انسان خوړې دستگاه له لارې څومره مسلمانان شهيدان شوي دي اوتردې دمه پورې دهغو زرگونو مسلمانانو دژوند اويا شهادت هيڅ نښې اونښانې نه دي پاتې شوی کوم چې دنوموړي دستگاه په واسطه نيول شوي دي .

د۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلې مياشتي په اخيرو کې دامين په واسطه سره تره کی له منځه ولاړاو داکسا رئيس يې له خپلې وظيفې څخه وشاړه اوپرځای يې خپل کشر ورو اسدالله امين مقررکړامين هم دنوموړی استخباراتي دستگاه(اکسا)نوم ته تغير ورکړاوهغه يې دکام په نوم ونوموله امين دخپل قدرت په څومياشتنی دوره کې هم زيات شمير مخالفين ددې دستگاه له لاری څخه شهيدان اووژل (دروسانودنظامي مستقيمې مداخلې څخه وروسته کی ، جی ، بی دکام رئيس اسدالله امين ونيوه اوويې واژه همدارنگه دکام نوم يې پ خدمات اطلاعات دولتی (خاد) واړاوه اونجيب (دکابل رژيم اوسنی په اصطلاح رئيس) يې دهغه په رأس کې مقررکړ.

دروسانو لپاره دامين موجوديت يو دهغو اساسي پرابلمونو څخه ؤ کوم چې دوی په افغانستان کې ورسره لاس په کريوان ووتره کی به امين ته دوفادار اولايق شاگرد خطاب کاوه اوامين به تره کی دگوند روح باله خوپه حقيقت کې دواړو ديوه اوبل دفريب اوغولوونې په خاطر ظاهري احترام اونړديوالی ښووده اوهريو په دې هڅه کې ؤچې څنگه وکولی شي مقابل لوری مغلوب کړي امااامين نه غوښتل چې تره کی زرله منځه يوسي ځکه چې امين دتره کی په موجوديت کې هغه څه تر لاسه کولای شول چې بې له هغه يې ورته مشکلات پيداکول اوتره کی اکثريت هغه امکانات له لاسه ورکړي ووکوم چې دامين دخپل سرې مخ نيوی يې پرې‌کړی وای .

> اسدالله سروري کي ، جي ، بي ته ترټولو وفادار اودهغې حقيقي راز دار ؤ روسانو ددې لارې څخه چې هرڅومره کولې شول هم يې خپل دوستان (پرچميان) له وژلو څخه بچ کول اوهم يې خپل دښمنان (داسلاميتحريك غړي اونوروطن دوستان) په شهادت رسول

تره کی دروسانو په مشوره د۱۳۵۸ هـ ش کال په نيمايي کې خپل سفر کيوبا اوروس ته پيل کړ په روس کې يې له بريژنيف سره دافيصله وکړه چې په هرصورت وي امين به له منځه وړي اوپرچميانو ته به دوهمه درجه گوندي اودولتي مقامونه سپاري کله چې تره کی بيرته راستون شو دامين راز دارسيدداؤد تړون کوم چې دترکی سره په نوموړي سفر کې ملگری ؤاودتره کی باوروُ ټول هغه جريان چې ورڅخه يې خبردرلود امين ته بيان کړاوامين يې نور هم زرنگ اوځان ساتنې ته متوجه کړ.

د۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلې مياشتی په اخيرو کې تره کی امين ته تليفون وکړ او ورته ويې ويل چې کارمې درسره پيداشوی يو واری زما دفتر ته راشه همداځای ؤ چې دتره کی او دروس سفارت (کی ، جی ، بی) پلان کوم چې دامين دله منځه وړلو پخاطر يې طرحه کړی ؤ بايد عملی شوای وای.

امين دخپلو باډيگارډانو (ساتونکو) سره ارگ ته ورغی خوکله چې دتره کی دکار دفتر ته ورننوت دتره کی ساتونکو دکلاشينکوفونو ډزې پرې وکړلې خو دامين رازدار سيدداؤد تړون ځان ورمخې ته کړ اوژوند يې پای ته ورسيد اما امين په مټ کې سرسري ټپي شو خودوژنې څخه بچ شو (امين خو ورځی وروسته دخپل دغه ملگري داحترام په خاطر دجلال اباد ښاردتړون ښار په نوم ونوماوه) خو دامين ساتونکو وکولای شول چې دتره کی ساتونکي له منځه يوسي اوتره کی يې ژوندی ونيوه اما بيا وروسته يې دبالښت په واسطه له منځه يووړلو (بالښت يې په خوله ورکيښود) ترڅو داسې څرگنده شي چې دکومې مريضی په اساس له منځه تللی دی او په گوند کې دامين په زيان انعکاسات اوعکس العملونه کم شي .

امين دتره کی له وژلو څخه وروسته په ۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلی په ۲٦ نيټه درادیو تلويزيون څخه دتره کی استعفا داسې اعلان کړله چې تره کی دهغه مريضی له امله چې ورته پيښه شويده دخپلو گوندي اودولتي وظيفو څخه استعفا وکړه په دې ترتيب سره امين دټولو گوندي اودولتي وظيفو په رأس کې قرار ونيوه خوبيا هم روسانو ترټولو زړه رسميت وپيژاند (د۱۹۱۷ م کال څخه ترنن پورې خصوصا په دې اخيرو کې په افغانستان کی چې هرڅوك قدرت ته رسيدلی روسانو ترټولو زر په رسميت پيژندلی دی خوکوم چې يې په گټه نه وه دهغوی دله منځه وړلو لپاره يې دهيڅ ډول توطئو څخه ډډه نده کړې نو ځکه يې امين هم په رسميت وپيژاند اوهم يې دله منځه وړلو په دسيسو زور واچاوه).

خوروسان يي...

يې ځواب راکړ: په جگړه کې ټپي شوم زما ملگري بيا ورته وويل :

دکومه راغلی ؟

دسکندرخيلو نه ... زه دحاجی فضل دادزوی يم موږسبايي دمرکز څخه راووتلو دخوږغاړې ته دولو سيورې کې ناست وو چې يوناڅاپه په مخامخ کنډو يوټولی عسکرچې دهليکوپترو په وسيله يې بدرگه کيده .

راواوښتل الوتکو دومره شديد بمباری پيل کړه چې حساب يې نه ؤ اوموږ دخوږ غاړې ته په ننگښيو کې مورچې ونيوې جگړه پيل اوڅوساعته يې دوام وکړ له جگړې وروسته عسکربيرته په شاشول اوزموږ دوه تنه ملگري شهيدان شول نورچوپ شو پرمخ يې خولې راماتې شوې او وروشانې يې وويل:

خو! هغوی مې نه هيريږي زه لږ ورته رامخې ته شوم. ولې خوك ؟ په سترگو کې يې اوښکې راغلې سريې پر ځنگانه کيښود :

هغه چې خپلې سينې يې دروسانو گوليو ته سپرکړې ، که دوی شهيدان شول خو روسان يې‌هم مات کړل .

تاوده بادونه

هغوی دمتعلمی له دوری څخه زما ملگری دی زه څو څوکرته ستاسی ځای ته در غلی يم شايد چی له تاسره به می هم ليدل کتل شوی وی ته له ماڅخه مه ويريږه ته ماته يو نيك مسلمان ښکاری څه بلی خواته ولاړشه که خدای (ج) دی ورسره دليدو نصيب کړی وی وبه يی وينی اوکنه نو په خدای پاك (ج) يی وسپاره دلته نوری ستاشپی نه کيږی ته خو وينی چی حالات ورځ له بلی بدتريږی هسی نه چی تاته کوم خطر درپيښ شی اوکه ته ما يادوی نو زه هم ترپوزی راغلی يم خو څه وکړم زه خو ديوه جدا مقصد لپاره دلته پروت يم زما څخه پرته زما دفاميل يو غړی هم دلته نشته زه شپه او ورځ دمجاهدينو سره په تماس کی يم هغوی ما مجبوروی چی بايد خپلی وظيفی ته تريوه وخته پوری دوام ورکړم ، ته خو وينی چی جگړن زماڅومره قدرکوی ځکه دی مايو وفادار ملگری گڼی !! خو زما اودوی دوستی او ملگرتيادعقل څخه لری خبره ده ځکه چی جگړن ته په داخل کی يو منظم پلان په کار اچول شويدی ته خو پدی پوهيږی چی جگړن پرچمی او دده په ملگرو کی ځنی منصبداران خلقيان دی ، داخبره ماتاته وکړه نه چی بل چاته دی له خولی څخه ووځی : خوکاکا پدی يوه خبره ټينگ ولاړ ؤ چی بچيه ته څه خبر يی په دنيا کی زما نور څوك دی ماخو تاته پخوا ويلی ؤچی داوو لونو لپاسه می هم دايو زوی ؤ لونی می ټولی پخپلوخپلو کورونو دی کورودانی می هم پحق رسيدلی ده نو زه اوس څنگه دغو بی رحمو جلادانو ته خپل کوچنی بچی يواځی پريږدم زه داسی کله کولای شم هرڅه چی وی همدلته به وی ، هغه باد خو به يی راباندی لگی کنه !

خوبيا زما دراتگ څخه لږ ورځی مخکی همغه څه وشول کوم چی ماگل دين کاکا ته مخکی ويلی ؤ دپلان له مخی جگړن دفاميل سره يو ځای دشپی په ترورمی کی له منځه يوړل شوخو دغه ظالمانو دنورو پرچميانو له خاطره ترڅو دغی پيښی ته يوه بله جامه ورواغوندی ديو څو نورو کسانو سره يی گل دين کاکا هم دتحقيقاتو هيئت ته وروسپاره خو ما هيڅ نه شو کولای ځکه پدغی کارکی گوتی وهل دنورو خطرونو منبع گرځيده دتحقيق په ټيم کی موجود يوه تن راته خبره کوله چی سپين ږيری غريب ډير زيات وزوريدو داسی يو وخت پری راغلی ؤ چی فقط له خولی څخه به يی اسويلی ختل ، اودخپل زوی دنوم انگازی به يی له خولی څخه راوتی ساه به لاپکی وه چی هغو جلادانو دغه بی وسه اومظلوم انسان ژوندی دخيتی تل ته ورواچاوه اودغه شان دخزان سپېروبادونو دده مخ دده دزوی دراپيداکيدوله ارمان سره يو ځای داسی بی ترسه وواهه چی دتل لپاره يی دده په سينه کی دغه ارمان خوندی وساته!

مونږ په افغانستان کی څه ولیدل؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې:

ژباړن : عوض الدین صدیقي

په تیرېسي :

پوښتنه : ته یی افغانستان ته څه ډول راولیږلی ؟

ځواب : ترحتمی پوځی روزنی وروسته ځوانان عادی دندو ته ورلیږل کیږی په دی دوران کی به که څوك دپوځی دندی لپاره وغوښتل شول په عمومی ډول به داسی انګیرل کیده چی یاافغانستان اویا دوارسا پکت دغړو هیوادو ځنی کوم هیواد ته لیږل کیږی کله یی چی زه وغوښتم سمدستی وپوهیدم چی ماافغانستان ته لیږی ، زمونږ ځنی ملګری چی له حالاتو خبر ؤ افغانستان ته له تګ څخه وېریدل اوهلته له تګ څخه دمخنیوی په خاطر به یی تدبیرونه سنجول ښایی په همدی خاطر به ؤ چی زمونږ قوماندان تر اخره راته ونه ویل چی افغانستان ته لیږل کیږی ، ترضروری روزنی وروسته کله چی مونږ «ترمز» ته ورسیدو مونږته باخبره افرادو وویل چی افغانستان ته دتګ سمدالاره ده ، تردی وروسته مونږ عشق اباد ته ورسیدو ، هلته زمونږ شك هم لری شو خو زمونږ قوماندان په الوتکه کی ترکښیناستو وروسته تسلی راکوله چی زمونږ منزل افغانستان نه پولیند دی تردی چی کله له الوتکی لاندی غړو نه ولیدل شول اعلان وشو چی :« مونږ دالفائین» له غرونو تیریږو » لږوروسته بیا وویل شول :

« مونږ دپولیند په خاوره کی روان یوو »

په پای کی مونږ ته د« وارسا» په هوایی ډګر کی دکښته کیدو زیری راکړشو خوکله چی الوتکه په هوایی ډګر کی کښته شوه راته وویل شول :

مونږ دکابل په هوایی ډګر کی کښته شو هیله ده چی ستاسو سفر به ښه تیرشوی وی »

پوښتنه : افغانستان ته تر راتیسیدو وروسته ستا تاثرات څه دی ؟

ځواب : دخپلو لوړ رتبه صاحب منصبانو پر درواغو ډیر خپه وم ، که څه هم چی داډول دروغ ویل روسی کی دتوقع پرخلاف نه دی خو بیا هم زړه درډوی کله چی هوایی ډګر کی کوز شوم دسلګونو نارینو جسدونه او دټپیانوځیری می مخی ته ودریدی چی له افغانستان څخه خپل هیواد ته لیږل کیږی ، ترټولو دمخه له هغو ځوانو پوځیانو اوصاحب منصبانو سره مخامخ شوم چی دزوورتیا سندونه او جایزی ورکړشوی وی ، دوی زمونږ دویری دکمولو هڅی کولی .

پوښتنه : ته چی افغانستان ته دتګ له خطرونو خبروی بیادی دنه تلو هڅی ولی نه کولی؟

ځواب : پوځی دنده سرته رسول په روسیی کی حتمی ده مونږ دقاعدی سره سم سوګند یادوو چی دامراحکام به منو او اوس که مونږ ورڅخه سرغړونه وکړو کم له کمه په یو کال حبس محکوم کیږو.

پوښتنه : تاسو افغانستان ته دراتګ وروسته څه دندی سرته رسولی ؟

ځواب : زه یی دجلال اباد ښار په۱٦٦غونډ کی دندی باندی وګمارلم دازما لپاره ډیره زیاته ګرمه سیمه وه البته تر رسیدو وروسته زما لومړی پیژند ګلوی له ګرمی سره وشوه وروسته دمجاهدینو حملو سره مخامخ شوم دلته دمجاهدینو تر ټولو قوی او فعاله ډله فعالیت باندی بوخته وه ښایی په همدی خاطر به روسی پوځ کی داخبره خپره شوی وه چی که دروی پرځای تیرې خوړل غواړی جلال اباد ته لاړشی .

پوښتنه : دلته دمجاهدینو پر خلاف روسی پوځ څه ستراتیژی غوره کړی وه ؟

ځواب : دلته به اکثرو حملو کی روسانود مجاهدینو مقابله کوله په دی خاطر چی افغانی پوځیان به دمجاهدینو سره یو ځای کیدل ، مجاهدینو به پټ ، پټ مینونه ښخول اودهغوی له وجی به مونږ ته سخت ځانی تاوان رسیده ، روسانو دخپل ټول طاقت او قوت سره سره ددی سیمی پر(۱۸) فیصده خاوری باندی کنترول درلود پاتی (۸۲) فیصده سیمه دمجاهدینو تر کنترول لاندی وه او هلته یی خپل اداری او قضاییی نظام حاکم کړی ؤ.

پوښتنه : په روسی پوځ کی دسپلین نظم او دصاحب منصبانو اوپوځی اړیکی څه ډول دی ؟

ځواب : په پوځ کی دروسیی او غیر روسی پوځیانو ګډون دپوځ دیووالی اونظم په لاره کی لوی خنډدی ، روسی قوم قدرتی ډول دبرتری پراحساس اخته دی که صاحب منصب دی دنورو قومونو (مثلاً یوکراینی ، ترکمانی ، قرغیز او تاجك ... وغیره) پوځیان له ځان څخه ټیټ بولی ، اوکه ځوان پوځی وی هغه دنورو قومونو دصاحب منصبانو امرهم نه منی غټ صاحب منصبان ددی په خاطر چی زیاتره روسان دی دوی دنورو صاحب منصبانو پروانه ساتی او دهغوی سره سخته کینه لری ، داکینه او تعصب یی دومره زیات دی کله چی په جګړی کی روسی پوځی ووژل شی ، دښخولو په وخت کی تر نورو مړو تر جیح او داولیت حق ورکوی ، ددی بی انصافی سره سره پوځ کی څوك احتجاج اواعتراض هم نه کوی ، هغوی دیوه بل څخه شکایت نه کوی ، البته نفرت ددوی په لاس کی دی اوداپه روسی پوځیانو کی عام دی .

پوښتنه : دتاسو په نظر روسی پوځ ته څومره ځانی تاوان وراوښتی ؟

ځواب : غربی مبصرین دوژل شوو روسی پوځیانو شمیر (۳۰،۰۰۰) په شاوخوا کی ښیبی او روس تبلیغاتی وسایل ددی پر نیمایی معترف دی خوزما پر نظر دوژل شو و افرادو شمیر تردی څو چنده زیات دی ، ښایی دصحیحی سروی اواحصائیی له مخی داشمیر معلوم شی .

پوښتنه : په افغانستان کی روسی پوځیان نشه یی مواد اونور سامان څه ډول لاس ته راوړی ؟

ځواب : دپوځ معاش ډیرکم دی په دی خاطر دوی داضافی مصرف دبیلابیلو وسایلو له لاری لاس ته راوړی په دی وسایلو کی غلا رهزنی اودوسلی خرڅول شامل دی ، چور او چپاول په ډله ایزه توګه کوی لاس ته راوړی مال په منظم ډول نه ویشی اودوی برعکس دچالاس ته چی څه ورتلل هغه دهماغه دی ، دغټو صاحب منصبانو معامله جلا ده ، هغوی له خپلولاس لاندی افرادو څخه مالونه په زوراخلی اویا دتلاشی په دوران کی افغانی وسایلو اوپیسی دهغو له جیبونو رااخلی .

پوښتنه : اوریدل شوی زیات شمیر روسی پوځیان دناروغیو له امله وژل شوی ؟

ځواب : په دی هکله زه زیات معلومات نلرم خو داماته معلوم دی چی په افغانستان کی روسی پوځیان زیاتره دسردردی ، تبی ، معدی ناروغی او ... باندی اخته کیدل ، دعملیاتو په دوران کی پر مونږ داسی وخت هم راغلی ، چی داسمان لاندی به داور مرمی اوریدلی خوداوبو به ترلږی ځایونو پته نه لګیده په مرکزونو کی به موجو دی اوبه صاحب منصبانو ځان سره واخیستی اومونږ به دتندی مړه کیدو ، په همداسی یوه وخت کی کله چی زه په لاره کی یوی ویالی ته ورسیدم ، مونږ ټولو ورته ګونډی ووهلی خوکله چی بیرته راستانه شو ټول پر سختی ناروغی مبتلاشو ، اوحتی ډاکترهم زمونږ ددی ناروغی علاج ونشو کړای .

نوربیا

په افغانستان کی دکمونستانو دجنایاتو یوه څنډه

ادالحاد لپاره دترویج اوخپریدو لاره اوراه اوپوهه بل پسی دخپلو استعماری نقشو دعملی کولو اوپلی کولو لپاره کار وکړی پدی توګه یی دظاهر په کرغیړنه دوره کی دکمونستی اواهریمنی بانډ و بنسټ کیښود ، اوپه ښکاره سره یی داسلام مقابلی ته را وایستل .

کله چی دڅه وخت په تیریدو سره داسلامی تحریك بادرکو با دردو او هدفمندو مومنو مشرانو او تهداب ګذارانو ، دخپل ایمانی مسولیت په بنا او اساس اسلامی مبارزه پیل او په دین او اسلام مین مسلمانان یی سره راټول اوخپلو مبارزو ته یی شدت ورکړ اوپه ډیره چټکی سره یی دهیواد په ګوټ ګوټ کی له پوهنځیو ، ښوونځیو ، دینی مدرسو څخه نیولی ترکلیو اوبانډو پوری باایمانه او بااحساسه کسان سره تنظیم شول او دڅوکلونو په موده کی یی دومره زور او قوت وموند چی دنړی خورانسان وژونکی روسی کمونیزم دجانی اوانحصار ګرو واکمنانو پښی یی په کریملن کی ولړزولی اودخپلو خلقی اوپرچمی مزدورانو دماتی اوله منځه تلو ویری واخیستل اوددواړو غوندی متکبره اوبدمغزه کس په منځته راوستلو سره یی خپلی مستقیمی لاس وهنی پیل کړی .

خوکله چی هغه هم دروسانو ارمان پوره نشوای کړای دافغانستان اشغال اولاندی کول چی دخارجی استعمار پخوانی او ناولی هیله وه دتزاریزم دنوم په اوښتو اوبدلیدو یعنی دوینی څښونکی کمونیزم په رامنځته کیدو سره دتزاردناولی ارمان له پاره ، دپلی کیدو لار اواره شوه هغه داچی دکمونیزم دعوام فریبانه اوغولوونکی شعار لاندی په سیمه او منطقه کی دسره استعماردپراختیا لپاره دغلامانو او مزدورانو په روزلو او تربیه کولو عملاً لاس پوری شو چی دپخوانی حکومتونو دبی بندوباری اوبی کفایتی څخه په استفادی سره پدی وتوانیدل څو دویښ زلمیانو ترنامه لاندی دخپلو مزدورانو لپاره دفعالیت زمینه برابره اودکفر اوپخپله مزدوری اوغلامی کی پاتی راغی روسانو دمستقیمی قوماندی په لاس کی نیولو سره دداود سرترخاورو لاندی اولیونی تره کی یی دهغه پرځای کښیناوه دلیونی تره کی له منځه وړل اودسفاك امین نصبول هم همدارنګه له شرمه ډکه ډرامه وه چی ټول ملت پری خبردی .

دقصاب ناامین دتش په نامه واکمنی لاڅومیاشتی نه وی تیری چی دهیواد اکثره مراکز اولوی ښارونه دمومنو مجاهدینو له خوا فتح ، دکابل ښار دحماسه جوړونکو مجاهدینو په محاصره کی راګیراو ورځ په ورځ دمحاصری حلقه پری راتنګیده اوکمونستانو دخپل عمرشپی شمیرلی پدغه وخت کی وحشی او ځناور صفته روسانو ، دخپلی اوږدی مودی زیار دمحصول دخوندی ساتلو په خاطر خپل دوه لکه په مودرنو وسلو مسلح سوراو وحشی لښکرزمونږ مقدسی خاوری ته رادننه کړل اودخپل تهاجم په اوږده او تور دورکی داسی جنایت اووحشت نه وه چی دوی لاس پری پوری کړی نه وی دخپلو وحشیګریو په لړکی یی ډله ایزی وژنی وکړی معصوم اوبیګناه ماشومان یی دخپلو میندو اوپلرونو وړاندی په برچو اونیزو سوری سوری کړل سپین ږیری او زنانه یی ژوندی وسوځول ښاروی یی قتل کړل کلی ، کورونه او ښارونه یی دخپلووحشتناکو بمباریو لاندی لوټی لوټی کړل ، زهرجن اوکیمیاوی بمونه یی په بی دفاع اومظلومو افغانانو باندی را واوړل په شنو فصلونو اوباغونو باندی اور تولیدونکی بمونه استعمال کړل زندانونه یی له هغو بادرنو خلکو نه ډك کړل چی دملت په هرغم او ښادی کی مخکښان ؤ ، عالمان ؤ ، ډاکتران او انجنیران ؤ ، چی داکثرو یی لاتراوسه نه دشهادت اونه دژوندی توب څه درك شته لنډه داچی له هیڅ ډول زړه دردونکی جنایتونو څخه یی مخ وانه ړاوه اودنړیوال جنګ لپاره جوړی شوی مدرنی وسلی یی په کار واچولی .

په اووم مخ کې

دوهم مخ پاتي برخه

کویټي ته یو لنډ سفر

چی کله ظاهرشاه ته ورګغلی اوکله لکه دواصفی په شانی دافغانستان دجهاد اولینیو جنایتکارانو ته هم لاس په نام ودریږی .

ښه نودذی مجاهدینو دتشویش دلری کولو لپاره چاره څه ده ؟

ګما په نظر مجاهدین باید دصدای امریکا اوبی،بی،سی په نعروورخطانه شی اکثریت هم دمجاهدینو دی اودحق طرفدارن هم دوی دی دوی باید همت له لاسه ورنه کړی اودهغه رهبر رهبری ته ګانونه اړونه بولی چی لگیادی دسیاسی حل په نوم داجهاد پلوری اودشرایطو په پلمه استعماری قوتونو ته تن ورکوی مجاهدین اومهاجرین باید دهری غیر اسلامی طرحی په مقابل کښی مظاهری پیل کړی غیر اسلامی طرحو طرفدارانو ته باید اخطار ورکړی چی دروسانو پرګای به دهمدغو استعمارطلبوسره لاس په گریوان شی دافغانستان مجاهد ملت مکلف دی پخپلو منځوکی باهمته بادیانته او باتدبیره خلك تشخیص کړی اودشرقی او غربی استعمار پر ضدیی دیوه افغانی اسلامی طاقت په توګه راپورته کړی اوترخوا یی ودریږی تعهدات ورڅخه واخلی چی ددغه پړانګ اوپانږ دواړو څخه به لری ګرځی ، اوکه نن سبا داکارونه کړی نو خدای مه کا دغه دمنافقت سیلاب یی به لاهوکړی اوپه اصطلاح دغه لومړ ی به ددی ژوندیو په څټ جغ کیږدی .

یك کیلومتاع مساوي با یك کیلو بانك نوت افغاني

روزنامهء فرانکفورتر روندشاو از قول خبرنگار خویش گزارشی را از کابل تهیه دیده که وضع زندگی مردم را در کابل تشریح میکند ، وی از بی ارزشی پول که خود در بازارهای کابل مشاهده کرده چنین سخن میگوید .بسیاری از افغانهارامیتوان دید که بکس یا بسته یی را دردست دارند وچیزی رادر دستار ویادستمالی پیچیده با خود حمل میکنند .کس نمیداند که دران اشیا وکالای را حمل میکنند ویا پول را جای داده ویا خود میبرد .درنقل دادن اشیا وپول تفاو هم بچشم نمی خورد.

درافغانستان باید پول را درخریطه یابوجی باخود حمل کرد برای یك کیلو متاع انسان باید یك کیلو بانك نوت افغانی بدهد اگر کسی بخواهد هنگام خرید بندل های نوت راحساب کند باید چندین ساعت وقت رابرای خرید مدنظر گیرد .

خبرنگار اضافه میکند بازار مثل سابق است ازگذشته تفاوتی ندادر ، ولی قیمت ها بگونه سرسام اوری افزایش یافته اند . بسیاری اشخاص حتی درطول سال هم یکبار گوشت نخورده اند ، صبح ، چاشت وشب همیشه نان وچای میخورند . کسانیکه خوشبخت هستند میتوانند بوره داشته باشند .

درهرکجا ی شهر وبازار انسان باادم های عصبانی واوقات تلخ یابه اصطلاح جنگرك برخورد میکند حتی انها ئیکه سبزیجات باغ ومرزعه خودرامی فروشند وخودشان انرا نمی خورند ، بسیارعصبانی هستند زیرا اوکه باپول ان باید صابون ، بوره ، چای وغیره چیزهای طرف ضرورت خودش را بخرد ، باید دالر تهیه نماید زیرا تنها بادالر میتواند این اشیا را بخرد .

یك دالر ۹٥۰ افغانی ، یك مارك ٥٤۰ افغانی ویك پوند استرلنگ (۱٦۰۰) افغانی میباشد .

صرافان محتکرین اسعاربوجی های پول راباخود اینطرف وانطرف میکشند تنها صرافان بسیار پولدار وغنی صندوق سیف دارند ویك دفتریکه بزرگی اش به مشکل به چهار مترمربع میباشد دراختیار شان میباشد .

درهرات نبرد شدید بین مجاهدین وقواي رژیم مزدور ادامه دارد

هرات ، میدیا :

قرار گزارشات واصله ازجبهات هرات ازچندی بدینسو حملات مجاهدین بالای قوای دست نشانده روس روزتاروز شدت یافته وهم حملات تعرضی دشمن توسط مجاهدین به عقب زده شده که فشرده حملات ازاول سرطان چنین اطلاع داده شده است .

اول سرطان : درحمله مجاهدین دلیر برمیدان هوایی شیندند ۸ پوسته دشمن دراطراف میدان هوایی ازبین رفته ۱۸ تن ازعساکروصاحب منصبان به اسارت مجاهدین قرار گرفتند ، برعلاوه ۲٥ میل کلاشینکوف ، یك میل زیکویك ، دومیل هاوان ، سه میل ماشیندار به غنیمت مجاهدین درامده است .

٤ سرطان : طی حمله مجاهدین بر مواضع رژیم که درمنطقه عروق ولسوالی زنده جان صورت گرفت یك عراده تانك تخریب وسرنشینان ان ازبین رفتند درمقابل طیارات دشمن مناطق مختلف رابمباردمان نموده که سبب تلفات وخسارات سنگین به اهالی محل گردید.

۷ سرطان : حمله تعرضی رژیم مزدور کابل درولسوالی زنده جان توسط مجاهدین سریکف اسلام دفع گردید که دران ٤۲ تن از طرفداران رژیم هلاك و ۲٥ تن انها جراحت برداشتند .

۸ سرطان : حمله دیگر تعرضی دشمن توسط مجاهدین به عقب زده شد که درنتیجه ۳ عراده تانك ودوعراده موتردشمن حریق گردیده درین حمله ۳ تن از برادران مجاهد ما به شهادت رسیدند .

۹ سرطان : مجاهدین قهرمان بالای قوای جابجا شده دشمن درمنطقه قلعه نو وقلعه ملکی ولسوالی زنده جان با استفاده ازفیرمرمی های توپ ۱۹ تن شانرا هلاك و ۱٤ تن دیگر رامجروح ساختند درین نبرد ٤ تن مجاهد زخمی شدند .

همچنان درحمله منطقه محل لنگر که توسط مجاهدین برپوسته های دشمن صورت گرفت ۲ تن از ملیشه هاهلاك و ٤ تن شان زخمی شدند بهمین ترتیب طی عملیات مجاهدین که درولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات که برپوسته های رزیم صورت گرفت ۸ نفر طرفداران رژیم هلاك و ۳۱ تن شان به اسارت مجاهدین درامدند برعلاوه ۸ قریه ازچنگال رژیم دست نشانده روس ازاد گردید و ۸۰ تن ملیشه با ۱۱۰ میل سلاح مختلف النوع ومقدار زیاد مهمات به مجاهدین پناه برده اند .

۱۰ سرطان : مجاهدین دلیر باسلاح های ثقیل قرارگاه نظامی دشمن رادر مرکز ولایت بادغیس نزدیك قلعه نو مورد هدف قرارداده که دراثر ان ٤ عراده تانك و ۲ عراده لاری نظامی باسرنشینان ان ازبین رفته وخسارات زیادی رابه دشمن وارد اورده است طی این عملیات یك تن مجاهد بدرجه رفیع شهادت نایل گردید .

۱۱ سرطان : درحمله ایکه مجاهدین درمنطقه قلعه نو ولسوالی زنده جان بالای پوسته های رژیم انجام داد ٤۰ تن ازملیشه رژیم هلاك ۲ دیپوی سلاح ، یك عراده تانك ویك عراده لاری دشمن به اتش کشیده شد درخبر گفته شده که جنگ هنوزهم دوام دارد .

۱۲ سرطان : مجاهدین طی حمله خویش در غرب ولسوالی زنده جان یك عراده تانك و ۲ عراده موتر رژیم راتوسط راکت به اتش کشیده ، ۲۰ تن ملیشه وعسکر رژیم هلاك و ٤ تن دیگر زخمی شدند .

همچنان درهمین تاریخ مجاهدین هنگام حمله برپوسته های رژیم درمنطقه مزار مربوط ولسوالی شیندند ولایت فراه ٥ تن از طرفداران رژیم راهلاك ویك تعداد دیگرشانرامجروح ساختند .

۱٤ سرطان : مجاهدین غیور دراطراف ولسوالی زنده جان مواضع دشمن راتوسط راکت زیر اتش گرفته که درنتیجه ۲ عراده تانك و ٤ عراده نقلیه دشمن تخریب و ۲٤ تن شانرا هلاك و ۱٥ تن دیك را زخمی کردند

همچنان مجاهدین بهمین تاریخ یك پوسته رژیم را در شاهراه هرات -کندهار درمنطقه کرداب فتح ۲ تن راهلاك و ٤ تن دیگر شان بایك میل گرینوف و ٥ میل کلاشینکوف اسیر شدند .

دسمنگانو په ولایت کي دمجاهدینو بریدونه

سمنگان میډیا :

دسمنګان ولایت نه دمجاهدینو یو خبرځای خبرورکړی چی مجاهدینو دسرطان په ۱۲ مه نیټه دخلم ولسوالی دتاشقرغان دتنګی پرپوستو اودایبکودښار په امنیتی پوستو یولړ عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کی ۲۰ تنه دړژیم ملیشه اوعسکر مړه ۲۰ تنه ټپیان او ۱۰ تنه نور یی دخپلووسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی . همدارنګه دړژیم ٥ عرادی تانکونه یی سوځولی دی.

همدارنګه په دغه نښته کی مجاهدینو دړژیم څخه په نظامی موادو بار دوه عرادی لاری ، ۲۰ میله کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات ولجه کړیدی .

په افغانستان کي دکمونستانو دجنایاتو ...

خو الحمدالله خپل شوم او ناولی شیطانی مرام ته ونه رسیدل که هرڅه وژنی او ورانی یی وکړی دمجاهد قوت ، دجهاد مخه یی ونه شوی نیولای بلکه دمومن ملت کرکه او غوصه یی لا زیاته کړه اودجهادی قوتونو یووالی اووحدت لاسره ټینګ اومحکم شو .

اودعمل اوجنګ په ډګر کی دروس یرغلګر اووحشی پوځونه خپلو ټولو جنګی وسایلو سره سره له بی شرمانه اورسواماتی سره مخامخ اوتیښتی ته مجبورشول له بده مرغه اوس هم دهغو زر خریده غلامان په راز راز دسیسو او توطئو سره دکابل دعلاقه داری په چوکی ناست دی او دروسی استعمار دګانی واکدارانو امرونه تطبیقوی مګر انشاالله زموږ مجاهد ملت ترهغه به جهاد ته ادامه ورکوی چی دشهیدانو اومعنورانو ارمان یعنی اسلامی حکومت په افغانستان کی جوړشوی نه وی والسلام

دامت تقاضا – دوخت ...

کنه نو هغه کوم عوامل دی چی دیوه واقعی اوسوچه اتحاد په لاره کی خنډ ګرځی ؟ په څوګونو اتحادونه منځ ته راغلل خو کوم دوامدار کاریی ونکړای شو ، دموقتی اسلامی حکومت خواته خوځ ددوافغانانو سترګی کږی وی چی شایدهغه اتحاد به زموږ په زخمونو دمالګی دوړولو پرځای دملهمو پټی کیږدی مګرداسی ونشوه .

نن یی پخپله جوړکړی څو ورځی پس یی په ړنګولو ګوتی پوری کوی اوس دغه حکومت هم بی روحه یو کالبوت دی زموږ څخه دامت تقاضا له هرڅه نه زیات بی غرضه اوبی لالچه یووالی دی خوله بده مرغه دهغوی دغه تقاضا دنه پوره کیدو پرځای نوره هم تکول شویده پدی ورووستیو ورځو کی خو هم د یوه بل کمیسون ړنهوری غږول کیږی خو فکرنه کوو چی دابه هم دکوم مرض دواشی اوکه جوړهم شی خو هغه امیدونه به یی له لاسه ورکړی وی کوم چی دنورو اتحادونو نصیب شوی وو موږ به څوارلسوکلونو کی یوه واقعی اتحادونه کړای شو نو نن به یی څنګه وکړو ؟ ترڅو پوری چی موږ د(وعتصمو بحبل الله جمیعا ولاتفرقو) په لاره نه یو تللی ترهغی پوری به موږ دکامیابۍ منزل ته ونه رسیږو ځکه دکوم قوم په منځ کی چی اتفاق اواتحاد نه وی هغه هیچری هم دکامیابۍ منزل ته نشی رسیدای نن چی زموږ په داخلی چارو کی څومره خارجی لاس وهنه پیل شویده دازموږ دبی اتفاقی اوتریګنی له لاسه،کنه نو داسی څوك به نه وی چی دافغانانو تاریخ یی نه وی لوستی اویا ددوی له میړانی څخه ناخبره وی داهغه افغانان دی چی داستعمار سره سره یی سورلیوه په ګونډو کړ خودغلامۍ اومړئیتوب له ناولو زنځیرو څخه یی ځانونه وساتل اوس نو دامت تقاضا اودوخت اهم ضرورت هم په همدی خبره کی دی چی باید زموږ دمنځ څخه دتریګنی جرړی ووځی موږ باید د۱٦ لکو شهیدانو قربانی په نظر کی ونیسو نه خپل ځانی اغراض!

ځکه نن ګرد طاغوتیان زموږ دتکولو لپاره په یوه سنګر کی دریدلی دی خدای پاك مه کړه که پخپل منځ کی مو دبی اتفاقی لمبی همدغه شان غرغندی وهی نو دکامیابی توقع به یو بی ځایه خیال اوتصور وګرځی وخت به راڅخه تیروی اولاس به مروړو .

واحده کړنلاره ...

داسلامي حکومت جوړيدل دسيمې دځينو هيوادونو په شمول شرق اوغرب دواړوڅان لپاره يو سترخطرګاڼه ، نو دهغې دمخنيوى لپاره ديوګډ سازش له مخې د پول پول توطئو په جوړولو دعمل په ډګرکې دپلي کولو لپاره شومې هلې ځلې پيل شوى اودهمدې دووکلونو په اوږدو کې يې دجهاد اواسلامي حکومت دمخنيوى په خاطر حتى زموږ ځينې دسنګرورونه پدې خبره راضي کړى چې دشرق اوغرب دغه سازش ته غاړه کيږدي.

داجوته خبره ده چې زموږ دمجاهد ولس جهاد اوپاڅون دسرو کمونستانو دپراختيا غوښتنې په مقابل کې اوهم داعلاى کلمة الله لپاره پيل شوى اوداژمنه موکړې وه چې په خپل اسلامي هيواد کې به دکفر اوالحاد جرړې له بيخه باسواوپرځاى به يې يو اسلامي حکومت جوړوو اوهمدې هدف دلاسته راوړلو لپاره مو وينې توېې کړې هيواد يې راته لوټه لوټه کړ، کلي اوکورونه مووريښودل اوپه تش لاس مودکفراوالحاد په توپونو اوټانکونو ورودانګل .

داچې اوس دهغو اويا دغو په سازش اوتوطئو له خپل اصلي هدف څخه ترشا کيږو اوخداى (ج) مه کړه بياهم دهمدغو کفري طاقتونوپه مشوره کارکوو ، نو دايه داسې ښکاري لکه چې زموږ دغه هلې ځلې داسلامي عقيدې په بنا ولاړې نه وې بلکې دنورو په لمسون مو دمقابلې پکرته دانګلې وو .

خوموږباور لرو چې هيڅ يو مسلمان اوداسليم عقل خاوند به هيڅ‌کله دااجازه ورنکړي چې زموږ په سرنوشت لوبې وکړي اولکه دخلقيانو اوپرچميانو په شان يو تپل شوى اوګوډاګي حکومت زموږپه مسلمان ملت ومني .

په داسې حساسواوسرنوشت ټاکونکو شيبوکې هرمسلمان وګړى له يوه عادي غړي څخه نيولې بيا ترتولو مشرانو پورې دنده لري چې ددغو بين المللي توطئو مخه ونيسي اوداافغان مسلمان ولس دريځ په روښانه ټکو کې ديو والي او اتحاد په فضا کې ځرګند کړي څکه چې اوس هغه پخوانى وخت ندى چې دروسانو دټکولو لپاره هم دوستانو اوهم دښمنانو له موږسره سرخوځاوه اوزموږ دجهاد ملاتړيې کاوه . موږوليدل چې دملګرو ملتونو دعمومي منشي پنځه فقره ايزه طرحه يې لدې چې وضاحت ولري اوتول اړخونه يې تشريح کړې وي ، لدى سره سره چې په کلي توګه دټولو رهبرانو له خواونه منل شوه اوځينو رهبرانو له خوا بيخي رد شوه ، خو دپاکستان ، سعودي عربستان ، ايران ، امريکې ، يو شمير اروپايي هيوادونو اوهمداډول په غربي هيوادونو کې داوسيدونکو افغانانو له خوايى تود هرکلى کيږى اوله نوموړى طرحې څخه خپل ملاتړ اعلانوي .

ښکاره‌ده چې ددې طرحې په اړه زموږ مشران واحده ستراتيژي غوره کړي اودهغوموادو په باره کې سلامشوره وکړي کوم چې وضاحت نلري اوهم هغه ټکي چې زموږ

داصلي هدف په لاره کې خنډونه رامنځته کوي ، په ګډه سره له منځه ويباسي اوپرځاى يې دافغان مسلمان ولس دارمانونو دلاس ته راوړلو لپاره نوى مواد جوړکړى اوددې ولس دوروستى پريکړې په توګه يې وړاندې کړي .

په ياد ولرى چې پدغو حساسو شيبو کې به کفري طاقتونه زموږله همدغې بې اتفاقۍ ، ځانګاني اوخپل سرۍ څخه ژوره ګټه ترلاسه کړي اوداسې يوه دسيسه به په کارواچوي چې بيابه يې زغم اومقابله څه اسان کارنه وي هغه وخت به هم خپلو مسلمانو خلکو ته اوهم داسلامي نړۍ دوستانو ته دملامتيا پيټى په اوږو ګرځوو.

راشئ چې له همدې وخت څخه په استفادې سره ديو واقعي اتحاد په لاره کې کام اوچت کړو اوديوه سترقوت په توګه ددې ټولو ناخوالو ، توطئو اودسيسو مقابله وکړواوله دې لارې خپل اسلامي ، ايماني اووجداني مسؤليت رفع کړو.

چې هم دالله تعالى (ج) رضا پکې نغښتې اوهم دفتحې اونصرت يواځينې لاره ده .

«ومن الله التوفيق»

مجاهدينو دننګرهار په ځمرخيلو کې درژيم ٤ پوستي فتحه کړي

دننګرهارو لايت دقوماندانانو دشوراي خبرځاى رپوټ ورکړى چې دننګرهار دځمرخيلو دشورا مجاهدينو دجلال اباد ښارپه جنوب ختيځه ۱٦ کيلومترى دځمرخيلو په ستراتيژيکي سيمه کې دکابل رژيم دقواو ٤ پوستي دسرطان په ۸ نيټه فتح کړي اوپوستي يې ويجاړې کړيدي .

دخبر مطابق نوموړو پوستو چې دځمرخيلو اوګردي کڅ غرونو ترمنځ دغرونو په لوړو څوکو کې موقعيت درلود يوفعال ټانك په کښې درژيم دقواونه پاتې شوي اومليشه و دمرګ ژوبلې برعلاوه تيښته کړيده .

پدې جګړه کې يو تن مجاهد په شهادت رسيدلى دى .

دخبر ځاى دخبر مطابق دکمونستي رژيم الوتکو دمجاهدينو څخه دغې اخيستلو لپاره پدغه محاذ دسرخ ديوال دمجاهدينو سنګرونه دبتي کوټ علاقه داري اودباسول ولسوالي بيلابيلې کليوالي برخې اودجلال اباد – طورخم دلويې لارې په شاوخوا دروداتو ولسوالي دحصارشاهي په سلطان جامع جومات اوبازارياندې بمبارکړې چې پکې دسلطان جامع جومات او اوه تنه کليوال په بيلابيلو برخو کې شهيدان اويوشمير نور ټپيان شوي اوهم داستوګنې يوشميروداني پکې ړنګې شوي دي . خبر ځاى دمجاهدينو اورژيم دقواو ترمنځ په ځمرخيلو کې دمتقابله ډزو رپوټ ورکړيدى .

دازاد کشمير ايالتي صدراعظم ونيول شو

پ ، پ ، اى .

دازاد کشمير ايالتي صدراعظم ممتا زحسين را تور پداسې وخت کې چې دپاکستان دخلکو ګوند په سلګونو تنو کارکوونکوله هغه څخه وسله وال ملاتړ کاوه دپاکستان دفدرالي دولت له خوا ګوښه او ونيول شو .

خبري منابع وايي نوموړى هغه وخت ونيول شو چې پدې ايالت کې يې روان عمومي انتخابات ملغى اعلان کړ ل او يوه اوني مخکې يې دجمواو کشميرپه ايالت کې د ګډوډيو او کړ کيچنو حالاتو د راوستلوپرسيره دکشمير دمسلمانوخلکوازادى غوښتونکي غورځنګ متاثرکړى ؤ . دخبر مطابق ممتاز حسين راتوردپاکستان فدرالي حکومت په امر ديوى پوځي هليکوپتر په وسيله داسلام اباد دولتي ميلمستون ته راوړل شوى او دهغه پر ځاى يې دکشمير دانتخاباتودکميسون رئيس سردارمحمد يوسف دصدراعظم په توګه ټاکلى دى .

په کندهار کې درې تنه صاحب منصبان له منځه تللي

کندهار ، ميډيا :

دکندهارله ولايت نه ديوه راډيويي پيغام په واسطه رپوټ ورکړشوى چې دمجاهدينو يوى چريکى ډلى دجوزا په ۳۰ مه نيټه دشپې له خوا دکندهار په ښار کې دمنزل باغ دسيمې دپوځي چهاونې درې تنه لوړ رتبه صاحب منصبان وژلي اودنوى وسلې يې په ولجه نيولى دي .

رپوټ زياتوى چې دمجاهدينو دغه ډله دحملې داجراکولو نه پس روغ رمټ خپلو مرکزونو ته ستانه شويدى .

عراقي حکومت ۱۸ نظامي افسران اعدام کړي

بغداد ، فرانس پرس اژانس :

دملګرو ملتو دسازمان يوى اداري دغه خبره روښانه کړې چې دعراق حکومت ددې هيواد ۱۸ کسه پوځي افسران دکودتا په اتهام اعدام کړي .

ويل شوي چې دغه افسران څه موده مخکې دصدام حسين حکومت پرضد ديوى نظامي کودتاه دکوشش په تور ، نيول شوي ؤ چې تيره مياشت دعراق حکومت له خوااعدام شول .

براب محمد«سودا » شاعر انقلابى ومجاهد وفات يافت

باتاسف اطلاع گرفتيم كه برات محمد سودا يكى ازشعراى معروف بدخشان به اثر عارضه قلبى به عمر ٥٥ سالگى ساعت ۱۲ ظهر روز سه شنبه ۱۱ سرطان جهان فانى راوداع گفته است .

انالله وانا اليه راجعون

برات محمد سودا يكى ازمبارزين برجسته ولايت بدخشان بود كه از اغاز كودتاى كمونستى دركشور به مبارزه عليه رژيم ملحد كابل برخاسته بود .

موصوف درسال ۱۳٥۸ بعد ازفتح ولسوالى جرم ازطرف مجاهدين بحيث ولسوال انتخاب ودر اخير همان سال به پاكستان هجرت نموده مدتى درچترال دربخش فرهنگ جهادى وبعدا در ادارات مختلف تنظيم جمعيت اسلامى در پشاور كار كرده است .

«سودا » اثار منظوم ومنثورزيادازخود بياد كار گذاشته وخدمات ارزنده نيز در بخش فرهنگى جهاد اسلامى انجام داده است

دالجزاير حکومت دمخالفينو په سيمو کې جوماتونه وتړل

الجزائر – دسرطان ۱٦مه

دالجزاير حکومت اوپوځ دورستيو ناقراريو په لړ کې ددې هيواد په هغو سيمو کې چې دحکومت دمخالفي اسلام غوښتونکي ډلې مشران او غړي اوسيږي ، جوماتونه تړلي دي .

پدې لړ کې يوشمير اسلامي هيوادونه او دمصر او اردن داسلامي تحريکونو مشرانو دالجزاير حکومت دغه کړه وړه په کلکه غندلي اوهغه يې داسلامي ازادۍ غوښتونکې جبهې په ضد يوخطرناك سازش بللى .

دافاريا ب په ولايت کې ددښمن (٥) پوستي فتحه شوي

مجاهدينو دفارياب ولايت دشرين تګاب ولسوالي پنځه امنيتي پوستي په يوه تعرضي حمله کې دکابل رژيم دقواو څخه فتح کړي ۱۷ مليشه يې وژلي او ۹۲ ميله وسله يې په ولجه نيولي ده

په پيښور کې دفارياب ولايت خبرځاى ديوه راډيويي پيغام په حواله رپوټ ورکړى چې مجاهدينو دفارياب دمرکز ميمنې ښارپه لمر ختيځه دکابل رژيم دشرين تګاب ولسوالي اولقمان سيمې په پوستو باندې دسرطان په ۱۳ مه يولږ پراخ تعرضي بريدونه پيل کړل چې په نتيجه کې درژيم دقواوْ پنځه امنيتي ستراتيژيکي پوستي فتح او ۱۷ تنه افراد يې پکې وژلي اويو شمير نور ژوبل شويدي .

درپوټ له مخې مجاهدينو پدغه حمله کې چې ددرنو وسلو په واسطه يې ترسره کړه دمتقابلو ډزو په واسطه درې تنه مجاهدين شهيدان او ۷ تنه نور ټپيان کړيدي .

رپوټ زياتوي چې مجاهدينو پدې جګړه کې دکمونستي رژيم دپوستو څخه نوه ميله زيکويك، ۹۰ ميله کلاشينکوفونه ديو شمير مهماتو سره ولجه کړې اودرې مليشه يې بنديان نيولي دي .

رژيم كابل شهر واطراف ولسوالى خان آباد رايكبار ديگر بى رحمانه بمباردنموده است

كندز ، ١٤سرطان

به گزارش دفتر سياسى شوراى قوماندانان درپشاور رژيم كابل بعد ازشكست فاحش نيروهاى مسلح ان درولسوالى خان اباد درجنگ با مجاهدين ازتاريخ ۱۱ الى ١٤ سرطان به شديد ترين بمباران هوايى كه طى ۱۳ سال اخير درين منطقه بى سابقه است توصل ورزيده سبب شهادت ده ها كودك ، زن وريش سفيد وتخريب كامل ده ها منزل مسكونى سوختن كشتزار ها واز بين رفتن مواشى اهالى منطقه درشهر وحومه خان اباد گرديده است .

درگزارش امده است كه نيروهاى مسلح رژيم ازفصله هاى دور شهر خان اباد راهدف سلاح هاى دور بورد بخصوص راكت هاى اوراگان قرار داده كه باعث اتش سوزى هاى شديد درد كانهاو مغازه ها شده است .

گزرش مذكور توجه جدى مقامات صحى جهادى درزمينه مشكلات صحى شهريان خواسته شده است طبق اين گزارش سلسله اين بمباران تا امروز همچنان ادامه داشته است ولى راپور دقيق تلفات تاحال بدست نيامده .

داستاد سياف دوژلو لپاره ...

چې له دغه مجرمينوڅخه ۱٥ کيلو ګرامه چاودېدونکي مواد چې په دووموټرو کې يې ځاى پرځاى کړي وُ اودهغوى دجاسوسي ديو لړ نورو اسنادو سره لاس ته راغلي دي .دپوليسو نوموړي مشر وويل :

دخاد دغه څلور تنه جاسوسان چې درې تنه يې پاکستاني هستوګن اويو تن بل يې افغاني دى ، دکابل دمزدور رژيم دخاد دجاسوسي ادارې دپنځمې شبکې غړي دي چې ددغه جاسوسي ادارې په قومانده يې دپاکستان په بيلابيلو ښارونو لکه اسلام اباد ، لاهور اوپيښور کې دتخريب کارى تقريباً ۱۸ فعاليته سرته رسولي .

دپيښور پوليسو دبمونو دله منځه وړلو متخصص ددې بمونو په هکله وويل چې دغه بمونه اوچاودېدونکي مواد اودهغې دپه کاروړلو طريقه ډيره عصري اومدرنه ده ، اودغه بمونه له ۱۰۰۰ متره فاصلې څخه دريموټ کنترول په واسطه چاوېدلې شي .

دپاکستان دسرحدي ايالت دپوليسو مقاماتو ويلي چې دغو تخريب کارو ددې وروستي توطئې لپاره ٥٠ لکه کلدارى ترلاسه کړي وى .

ويل شوي چې نوموړيو تخريب کارانو دخاد څخه علاوه دهند دجاسوسي دستګاه «را» سره هم اړيکې درلودې اودهغوى پنځم ملګري چې پدې پيښوکې ورسره شريك دى تراوسه دپوليسو ګوتو ته ندى رسيدلى .

دهيئت تحرير ترنظر لاندي مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

يونيورستي ټاون پيښور

تيلفون : ... ۸۱۲۲٥۱